# دا کوم رنګ مې کشید کړے



رياض تسنيم

# دا کوم رنګ مې کشيد کړے

## رياض تسنيم

ټول حقونه د شاعر د اولاد عدينه اؤ دائم شاه په نومونو خوندي دي


| | | |
|---|---|---|
| اؤل ځل | : | جنوري ۲۰۰۴ |
| دويم ځل چاپ | : | ۲۰۱۳ |
| شمېر | : | ۵۰۰ |
| اهتمام اؤ ډيزائن | : | رياض ساحل |
| ټائټل | : | محمد ارشد خان (MAK) |
| خورونکي | : | ادبي ملګري کراچۍ |
| له اړخه | : | پښتون تهنکرز فورم کراچۍ |
| د موندلو درک | : | مکان نمبر ۲۶ بلاک K نيو لېبر کالوني سائټ کراچي 0301-2623239 |
| ايمېل | : | riyaztaneem@yahoo.com |
| بيعه | : | ۲۰۰ روپۍ |

# ترتيب



| مخ نمبر | سر ليک |
|---|---|
| ۸ | د جديد شعري روايت --- يو صاحب طرز شاعر |
| ۱۷ | من آنم |
| ۲۱ | د دويم چاپ پۀ حقله |
| ۲۵ | چې د خپل قد اؤخپل قوت نه مې سېوا وکړه |
| ۲۷ | ښه ټوقه وشوه، چې دې زړۀکښې خواهشونه نور وو |
| ۲۸ | څۀ عجيبه ده، چې ستا خوا کښې بې ثمر شي سړے |
| ۳۰ | تنها مو وړے اؤ واپس مو زړۀ تنها راوړے |
| ۳۱ | دا چې بې عشقه تېرېدۀ، چې بې آنا تېرېدۀ |
| ۳۲ | خبر د هر چا راغے خو، يو ستا څۀ خبر رانغے |
| ۳۳ | پري زاده ! زړۀ مې چوي لۀ اضطرابه |
| ۳۶ | خوب مې داسې وليد ، چې لوګے شه ترې خوبونه هُو |
| ۳۷ | پۀ ذهنونو کښې ګلاب کرم لګيا يم |
| ۳۸ | د خپل مرکز،د خپل وجود نه ګرېزان دي خلق |
| ۳۹ | دا خپلې متې ګانه ړدو، دا خپل سرونه ګانه |
| ۴۱ | دا به عجبه وي کۀ ستا ترخنګه ښاد شو مونږ |
| ۴۳ | چې پۀ هيڅ يو صورت ځي ، نۀ |
| ۴۵ | څۀ تصوير چپ ، څۀ ائينې چُپ دي |
| ۴۶ | لۀ دړدونو دا باغي سينې مو شوري |
| ۴۷ | جنګ هميش د ګټې چا زده؟ |

| | |
|---|---|
| یوه اسره هم غنیمت دے د ژوندون دپاره | ۴۸ |
| چاته خو مو عیب اؤ هنر نۀ ښکاري | ۴۹ |
| هره تمنا دې اور ، همه بدن ګُلاب ګُلاب ـ یَه بلا دې واخلمه | ۵۱ |
| نۀ زۀ د چا پۀ مثال شوم ، نۀ څوک زما پۀ مثال | ۵۲ |
| هر کنډر ئې مجسم غوندې فریاد دے | ۵۴ |
| ښۀ پوهېدو چې پۀ خپل سر مو بادولې خاورې | ۵۵ |
| لۀ مرغانو اثر اخلئ کله کله | ۵۷ |
| ساده لکه زمونږ د ارمانونو پۀ رنګ نۀ دے | ۵۸ |
| پۀ هغه وخت کښې چې د سرومال قاتې وه ډېره | ۵۹ |
| تورو تورو شپو غېږ کښې نیولے یم | ۶۰ |
| د زنځیر کړۍ کړۍ مې هر ارمان شۀ | ۶۰ |
| د شهزادګانو پۀ محل کښې شهزادګۍ اوسیږي | ۶۳ |
| زړۀکښې بدل د خپلې تېرې زمانې اخلم | ۶۴ |
| ژوند نۀ محروم ، څۀ کۀ د ژوند پۀ رهګزر پراتۀ یو | ۶۵ |
| دا دومره لار وَهل ، یاره وړه خبره نۀ وه | ۶۶ |
| دائرې دي پۀ خندا زاویې خاندي | ۶۷ |
| یو بې وسۍ مو آرزوګانې اؤ سیالۍ سوې دي | ۶۹ |
| زړۀکښې مې یوه جینۍ | ۷۰ |
| داڅۀ یاري ، څۀ ئې معنا ، تنه نا ها یا هو | ۷۳ |
| څوک دي چې تانه عزتونه مرتبې غواړي | ۷۴ |
| راتله راتله اؤ پۀ کوم ځائې کښې شوه ډېره خاموشي | ۷۵ |
| چې زرګر زړۀ ته خواږۀ دي | ۷۶ |
| د خپل سفر د عجب ستورې پۀ ولقه کښې زۀ ؤم | ۷۷ |
| نۀ پۀ معنا ئې خبر ، نۀ تعبیر لرې خوبونه | ۷۸ |
| ووځم پۀ دغه دروازه، کۀ پۀ دې لاره ووځم | ۷۹ |

| | |
|---|---|
| لمحه لمحه راته د ژوند تمام رنګونه ښائي | ۸۰ |
| هجر رسيږي تر کمال ، پيره ! | ۸۱ |
| دواړه قېد يو روايت کښې | ۸۳ |
| بيا د زړۀيوه آرزو وږمه وږمه ده | ۸۵ |
| يو د وصال رنګ ، د ژوند رنګونه واړه يوړل | ۸۷ |
| نېزې دي اؤ زمونږ غلبېل سينې دي ، اؤ ماښام د ے | ۸۸ |
| تا د سرو چړې راوړې وې تحفه کښې | ۹۰ |
| د محبت پۀ مخ مو خپله آنا وليکله | ۹۱ |
| نۀ مې څوک ياد شو ، نۀ مې نوم د چا د بام واخست | ۹۳ |
| خوره به خاموشي وي اؤ ماښام به ساندې وائي | ۹۴ |
| ستا ترخنګ مقابله د هرعذاب کړم | ۹۵ |
| پۀ جهان مې څۀ پروا | ۹۶ |
| ښارونه څۀ دي ، خو تش نوم د ے د ښارونو پاتې | ۹۹ |
| سم پۀ مثال د ديوالۀ شي سړے | ۱۰۰ |
| هالۀ خوشبو ، هالۀ سپرلے شي سړے | ۱۰۱ |
| دا مونږ کۀ نۀ وے، يَه سړيو! خبر به چا راؤړۀ | ۱۰۲ |
| ځان کۀ مې ورک کړو ، نو وصال ته خو راؤ رسېدم | ۱۰۳ |
| د زړۀ نه تمنا مې را بهر کړه اؤ کۀ نه | ۱۰۵ |
| چې ئې هر حاکم حجاج د ے | ۱۰۶ |
| ژوند ـ حادثې اؤ توره شپه جانانه | ۱۰۷ |
| مونږ د ازل نه د ستم موسم ته ځان نيولے | ۱۱۲ |
| خلق کۀ هر څومره بدل يا زمانه ده جُدا | ۱۱۳ |
| شپه پۀ سر پرته ده اؤ دا شپه عجيبه ډېره ده | ۱۱۵ |
| ذره ذره ئې کړه راټول اؤ لړ پرې خيال وساته | ۱۱۶ |
| يم اخستے شپې، ياره! راوَښايه | ۱۱۷ |




www.sikaraam.com

| | |
|---|---|
| نۀ مې ځان ياد ، نۀ تقاضې د دُنيا خوند کوي | ۱۱۸ |
| دې وخت ته اؤ بيا دې د محبت زوال ته ګوره | ۱۱۹ |
| خلق د مخ نه خپلې خپلې اندازې لګوي | ۱۲۰ |
| زړې کنډرې ورانوۀ لګيا يو | ۱۲۱ |
| کۀ ستا نامه اخلو هم ، خُلې له مو راځي زخمونه | ۱۲۲ |
| پۀ شوق درغليو خلقو خپل لاسونه خالي راؤړل | ۱۲۳ |
| سترې حادثې لري، دا د افتونو ښار | ۱۲۴ |
| اخلې سره مې د ارمانه ، ياره | ۱۲۵ |
| کله د چا کله د چا مو پېغورونه تېر کړۀ | ۱۲۶ |
| سترګې مو وې خو زمونږ دومره نصيبونه نۀ وو | ۱۲۷ |
| هم دغه ګُلابي بدن ، هم دغه زاويې وے | ۱۲۸ |
| چې رانښکاره شي د يو بل غمونه | ۱۲۹ |
| راووتم لۀ کوره ، يم روان د څۀ د پاره ؟ | ۱۳۰ |
| ستانه بغېر هم زما واړه ماښامونه اباد | ۱۳۱ |
| سترګې مو سوزي ، د خوبونو کورکي پرېوځي | ۱۳۲ |
| يخې شپې د دسمبر ، واورې بادونه | ۱۳۳ |
| زۀ پۀ انا باندې ژوندے يم اؤ انا را رسي | ۱۳۶ |
| زيان مو ليدۀ خو بيا موهم دا عاشقي کوله | ۱۳۷ |
| ؤم د هرچا خو ستاد کار نۀ ؤم | ۱۳۸ |
| چې هفت رنګې شوګيرې ځي ستا پۀ لورې | ۱۳۹ |
| شور د هستۍ له سمندره راځي | ۱۴۱ |
| لوېشت نيمه زمکه غواړي، يؤ څپق اسمان غواړي | ۱۴۳ |

# د روه د شاعرانو د دوه

# وئشهريارو

# رحمان بابا

# اؤ

# قلندرمومند

# په نوم

## د جديد شعري روايت ---- يو صاحب طرز شاعر

د رياض تسنيم د شعري روايت نوم "دا کوم رنګ مي کشيد کړی" خپله دقاري څخه د بلها غور او فکر غوښتنه کوي.د دغې شعري مجموعې پهٔ عنوان کښې د شاعرانه تعلي يوه دعوه پهٔ ډېر اعتماد پهٔ غورځنګ ښکاري.او داسې ښکاري لکه د دغه شعري روايت نوم چې لهٔ هر قاري څخه دا پوښتنه کوي. چې آيا دا پهٔ رښتيا د يو صاحب طرز شاعر شعري روايت دی ؟که هسې شاعر د مبالغه آرائي نه کار اخستی دی زما پهٔ شخصي فکر "داکوم رنګ مي کشيد کړی" صرف د يوې شعري ټولګې عنوان نه دی بلکې د پښتو ادب د ناقدينو د پاره پهٔ دې عنوان کښي د يوې عامې مباحثې ښکاره دعوت هم خپل وزر رپوي. کټ مټ د اردو د يو شعر د دغې مصرعې پهٔ مصداق.

"صلائے عام ھے ياران نکته داں کے ليے"

دغه عنوان رياض تسنيم د خپل شعر د يوې مصرعې څخه زما پهٔ شخصي فکر پهٔ شعوري توګه مستعار راخيستی دی. ځکه د دې شعر مصرع پهٔ هم دغه تناظر کښي دلته نقل کول ضروري بولم.

## دا کوم رنګ مې کشید کړی لۀ ګلابه

رنګ کشید کول، او هغه هم لۀ ګلابه. د شعري مجموعې و عنوان ته نور تقویت او یوه نوي معنوي روح ور بخښي.لکه ریاض تسنیم چې وئیل دا غواړي. چې هغه د شاعري لپاره یوه داسې منفرده لهجه خپله کړې ده. چې هغه خپل یو بېل رنګ هم لري. او د یو ګلاب غوندې ښائست او ښکلا هم. خو دا بېله خبره، چې هغه پخپلې دې دعوې لا هم اکتفا نۀ کوي. او هغه د یو صاحب طرز او منفرد شاعر پۀ حېث خپله هم دغه دعوه بیا بیا تکراروي. او وائي

"یو سړی دی او هغه پۀ یو داسې ماحول کښې د قلم او لفظ د حرمت او د فن د حقیقي عظمت طرفدا ر دی. چرته چې فن د "نابیناوو جوهریانو" رحم و کرم ته پاته دی"

او مخ ته پخپلو خبرو کښې د خپل فن او هنر پۀ حقله پۀ هم دغه دعوه ټینګکار پۀ څو تورو کښې داسې کوي.

"داسړی د حسن تمام رنګونه، تمامې دائرې، تمامې زاوئې او تمامې اداګانې د تاوېدو پۀ شان د خپلو سترګوپۀ لمن کښې رانغاړي او هره لمحه حیران ولاړ دی چې دا ژوند دومره مختصره او حسن دومره پرېمانه ولې دی؟او هم دغه سړی د خپل

عمر د تېرو شلو کلونو د تخليقي کرب نه چوڼ (انځورونه) غزلونه پهٔ لاس ستا سو مخې ته ولاړ دی. "

د تخيل د الوت دغه بازيګر يو بل ځای بيا د خپل شعري کاوش پهٔ ۱۲مه پاڼه د خپلې منفردې لهجې دف د يو شعر په صورت کښې داسې وهي

خوشـــبوئي مـــي د لهجـــې حالونـــه وائـــي
چـــې د ګلـــو ښـــاخ مـــي زړه پـــورې نيـــولی

د روان بحث پهٔ تناظر کښې يو شعر بل چې زما پـه شخصـي فکر د پښتو ادب د ناقدينو لپاره د شرم باعث ګرځي. په ساده ژبـه کښې ددې شعر تفهيم پهٔ څو تورو کښې داسې راغونډېـدی شـي. چې زما الميه د يوسف د الميئې نه ځکه زياته لويه الميه ده. ولـي چې زه خپلو سکه ورونړو کوهي ته غورځـولی يـم." او دغـه سـکه وروڼه (نابينا جوهريان) د شاعر پهٔ خيال د پښتو نظم ناقـدين دي. شعر وګورئ!

د يوســـف نـــه ده زمـــا الميـــه لويـــه
زه ســـکه ورونـــو کـــوهي تـــه غورځـــولی

اوس سوال دا پيدا كيږي. چې آيا رياض تسنيم په ربنتيا يو منفرد شاعردى؟ هغه د شعر په اړه يوه ځانګړې لهجه لري؟ دهغه لفظيات، مضامين،استعارې،تراكيب او د شعر جوړښت د هغۀ د دغې دعوې"دا كوم رنګ مي كشيد كړى"حق محفوظ ساتلى شي؟ د پورتنئيوسوالونو په اړه د خپلې تجزئې نه مخ كښې زۀ د رياض تسنيم يو څو شعرونه دلته ستاسي مخته رواړل ضروري ګڼم.

بنـۀ خبـر يـم چـې پـۀ كـور كښـي فقـط زۀ يـم
بيــا هــم خپلــه دروازه وهــم لګيــا يــم

تصـــــويرونه لكـــــه فـــــريم كښـــــي
خلـــــق تـــول د ننـــــه مـــــرۀدي

پـــــري زاده!زه كـــــه دا واري اودۀ شـــــوم
هـيڅ يـو شـور بـه مـي راويښ نـۀ كـړي لـۀ خوابـه

ويـره كـۀ ده د خپـل آواز د وركيـد و ويـره ده
داچـــې قـــدم بهـر لـۀ هــرې تماشـــې اخلــم

دا لاس زما دی، نهٔ څهره زما، نهٔ سترګي زما
دا خپل تصوير آخر لهٔ کومې زاوئې اخلم

زندګي ده دومره تېزه پهٔ قدم کښي
چې لهٔ سترګو مې خوئيږي منظرونه

زهٔ يوه ورځ لهٔ کوره دومره لرې تلی ومه
چې را واپس شوم دروازې او دېوالونه نور وو

شمعې ئې بلې د مقتل پهٔ بور جلونو پرېښوې
دا ځل څهٔ ډېره عجيبه ټوقه هوا وکړه

څهٔ به دې حال کښې دوجود پهٔ دښته ځان آباد کړم
کور دېوالونه، دېوالونه دروازې غواړي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

تمامــه ورځ مــې د قبرونــو شمارکښــې تېــره کړلــه
لکــه ژونــدی پــۀ دغــه لويــه هــديره کښــې زۀ وم

اوس که زه خبره ګرسره د دې ځای نه پئيل کړم. چې آيا ذکر شوي ټول شعرونه د يو صاحب طرز او منفرد شاعر د ځانګړې لب و لهجې اثبات نۀ کوي؟زما پۀ خيال پۀ دې هر شعر کښې د يو ګلاب غوندې خوشبوئي محسوسيږي.هر شعر ئې يو تازه او غوړېدلی ګلاب ښکاري. خو دا د رياض تسنيم خپل شعري فن او کمال دی.چې يو ګلاب ته ئې سپين رنګ ورکړی او بل ته ئې سور او دغسې ئې و بل هر شعر ته يو بېل رنګ ور بخښلی دی. کوم چې د هغۀ د شاعرانه تخيل او د فکر د الوت د مستقل مزاجۍ پوره پوره غمازي کوي. زۀ به دا اووايم چې نن هم دغه شعري روايت د پښتو د جديدې شاعري يوه اهمه حواله ده. ولې چې زه د يو نابينا جوهري غوندې کافر خو نۀ يم.چې د دې تريخ حقيقت څخه انکار وکړم.چې رياض تسنيم د خپل ځانګړې غږ پۀ حواله د پښتو جديد شاعري يو معتبر نوم دی. زۀ خو چې دا هر شعر لؤلم . داسې محسوسوم.لکه پۀ ذکر شوي هر شعر کښې چې يو نابلده خوف، يوه نا اشنا مايوسي او يوه بې نومه خاموشي ګويا نه وي. يا بيا شايد پۀ دې شاعري کښې زۀ داسې محسوسوم.

لکه د يوې وېرېدلي سائې بې زباني چې و دې بې حسي دنيا ته خپل سترګې ستومان او لوغړن داستان تېروي. دهغه پهٔ دې ستومانه او لوغړنه لهجه کښې د منفردې شاعرۍ نور او سرور له ورايه محسوسيږي.هر شعر ئې د جوړښت پهٔ لحاظ د جديدې لب و لهجې سره هم آهنګ ښکاري. زما پهٔ خيال د خوشحال بابا نه ئې را واخلې تر نن پورې، په پښتو معياري شاعري کښې د هغه خپل ځانګړې غږ د پښتو شعر سنجيده قاري لهٔ ورايه محسوسولی شي.

يو داسې شاعر چې پهٔ شلو پښو د دې چابکې زندګۍ سره همسفر وي. چاته چې د دنيا ټول خلک د قبرونو پهٔ څېر ښکاري.څوک چې د انسانانو پهٔ دې جم غفير کښې صرف ځان ژوندی بولي. څوک چې د خپل آواز د ورکېدو لهٔ وېرې مسلسل د ځان سره خود کلامي کوي. ولې چې د دنيا پهٔ فرېم کښې ټول خلک هغهٔ ته مړه ښکاري.هو! يو داسې شاعر څوک چې خپل قاري ته پهٔ يو نااشنا ژبه خپل حال وائي او پهٔ ډېر اعتماد د وخت دکاهنانو د کاڼو و باران ته خاموش ولاړ وي. د هغه د شعري روايت پهٔ اړه کهٔ زهٔ څهٔ اووايم هم، نو څهٔ به اووايم؟ سېوا د دې نه، چې دې شاعر بلا شک و شبه و توروته يوه جلا او منفرده لهجه ور بخښلې ده. يا دا وئيلی شو. چې رياض تسنيم پهٔ رښتيا د

لفظونو د حرمت او حقيقي عظمت طرفدار دی. يا به دا ووايو .چې د لفظونو د دې جادوګر د لب و لهجې يوه بېله خوشبوئي د هغه د تخيل د ګلستان ګوا د ګلونو دباغRose-gardenنه مسلسل را روانه ده.کومه چې د پښتو د شعر د سنجيده قاري کيتهارسيس کولی شي. د هغه هر شعرEsthetic argumentدی ځکه زه ورته پۀ ډاډه زړۀ د جمالياتي دليل شاعر وئيلی شم. د شعر د جوړښت پۀ لحاظ ئې د لفظونو او استعارو نه کار پۀ دومره فن او هنر اخستی، چې شاعري ئې د شعري اظهار يو ځانګړې آئينه خانه معلوميږي. د هم دغو خوبيانو پۀ سوب زۀ رياض تسنيم د پښتو ژبې پۀ څو ښو شاعرانو کښې پۀ هسک سر ولاړ وينم. د اختلاف کولو حق زۀ د چا نه نۀ اخلم. کۀ څوک زما لۀ دې مجموعي رائې سره اختلاف لري. نو زۀ يو ځل بيا دا جرات کوم او د اردو ژبې هغه ذکر شوې مصرع دلته د عامې مباحثې لپاره بيا نقل کوم.چې

"صلائے عام ھے یاران نکتہ داں کے لیے"

دلته زۀ يو بل ډېر اهم سوال راپورته کول هم ضروري ګڼم. چې د پښتو شاعري د تنقيدي مباحثو جاج ازسرنو اخيستل پکاردی ولي چې د پښتو شعر اسان خوښو نقادانو خو د خوشحال بابا د شاعري سره لا هم انصاف نۀ دی کړی. نو د نورو شاعرانو د

مقاماتو تعين به ئې څنګه کړی وي؟پۀ داسې حال کښې به دغه نقادان (نابينا جوهريان) د رياض تسنيم سره څۀ انصاف وکړي؟زۀ زيات حيران پۀ دې يم چې د Sub-standard, Standard او-Out standing شاعري به څوک را برسېره کوي؟ هم دغه سوال د پښتو شاعري پۀ اړه نۀ يوازي ډېر اهم دی بلکې د پښتو شاعري د پېش رفت لپاره د بلها ارزښت وړ هم ،کۀ داسې ونۀ شي نوپۀ پښتو شاعري باندې به د جمود تورې وريځې هم دغسې خورې وي او د دغو ناييناوو جوهريانو د بې هسی پۀ سوب به د پښتو د شاعري شعري عظمت  د وخت پۀ ناروا ګرځ کښي هم دغسې نهام او پټ پاته وي.

محمود اياز

سکام ادبي اکېډمي کوئټه

# من آنم

يؤ سړے دے چې د انسانانو پۀ هجوم کښې ولاړ دے اؤ دخپل وجود اؤ روح د ازلي اؤ ابدي تنهايۍ د عذاب عذاب لمحو نه راتېرېږي اؤ د چاڼه ګېر چاپېره چې د نظر تر حده تکه توره تيارۀ ده اؤ يو غير يقيني صورت حال دے اؤ د دنيا د دې سر نه واخله تر هغه سره د خلقو ورمېږونه د يوې رسۍ پۀ ول ول کښې انبنتي ښکاري،خو د دغه سړي دا هم ايمان دے چې چاپېره دجنګ ، کرکې، تعصب ، ناانصافۍ،غربت،جهالت،استحصال،طبقاتي تقسيم اؤ سياسي بازي ګرۍ د مکروهو څهرو باوجود هم ژوند پۀ نوؤ نوؤ معنو کښې خپل ښائست اؤ خپل مفهوم څرګندوي اؤ د سړيتوب اؤ انسانيت اخري فتح يقيني ده-


www.sikaraam.com

يو سړے دے ـ اؤ هغه پۀ يو داسې دور کښې ژوند کوي چرته چې هر سړے د خپل ځان نه ورک دے ، چرته چې هر سړے پۀ يوه مقرر کړې شوې دائره کښې دننه ښېخي پۀ يو ډېر مضحکه خېز انداز کښې تاوېږي اؤ د ورځو شپو د تسلسل پۀ دغه جبر زغملو مجبور دے ، چرته چې فکر اجتماعي رنګ ډېرکم اخلي ، چرته چې انفرادي مسئلو د خلقو ملاګانې راکږې کړي دي اؤ چرته چې انساني اقدار پۀ سلګو دي اؤ تهذيب د مرګ پله ډېر پۀ تندۍ روان دے ـ

يو سړے دے ـ اؤ هغه ديو داسې قام فرد دے څوک چې پۀ دې نۀ دي خبر چې د دوئ پۀ لاسونو کښې چې کومه جهنډه ده، دا د چا ده؟ او دوئ پۀ چا پسې روان دي ؟ څوک چې صرف اؤ صرف د ماضي پۀ ټالونو جوتې خوړل عېن عظمت ګڼي، اؤ چا چې د تېرو درېو لسيزو راسې د اجتماعي خودکشۍ عالمي رېکارډ قائم کړو - اؤ چا ته چې هره بې ستره ښځه کښې فحاشي د زرګونه ميله لرې نۀ ښکاري خو خپل عېبونه ، کمزورۍ اؤ جهل ښېخي نۀ ويني :

برهنه هیں سر بازار تو کیا
بھلا اندھوں سے پردہ کیوں کریں ہم
(جون ایلیا)

یو سړے دے۔ اؤ هغه پۀ یوۀ داسې ماحول کښې د قلم اؤ لفظ د حرمت اؤ دفن د حقیقي عظمت طرفدار دے چرته چې فن د "نابیناؤ جوهریانو "رحم و کرم ته پاتې دے ، اؤ چرته چې خرمهرې د سندونو اؤ القاباتو پټکي تړي اؤ لعل و ګوهر باندې د ایرو ټوپکي ولاړ دي ، چرته چې هر نابینا د بیناؤ د قبیلې سرداري کول د خپل ژوند ټارګټ مقرر کړے دے –

یۀ سړے دے۔ اؤ هغه پۀ دې مطمئن دے چې هغه انسان دے ،فرشته نۀ ده د دېو مالا ئي داستانونو عاشق نۀ سهي خو کم نه کم د خپل قد اؤ قوت نه د سېوا عشق دعوی ګیر دے، د هغۀ محبوبه هم د هغۀ پۀ شان پۀ دې زمکه اوسېدونکې اؤ د هډوکو اؤ غوښو نه جوړه ده – دا سړے دحسن تمام رنګونه ، تمامې دائرې ، تمامې زاویې اؤ تمامې اداګانې د نادیدؤ پۀ شان د خپلو سترګو

پۀ لمن کښې رانغاړي اؤ هره لمحه حېران ولاړ دے چې دا ژوند دومره مختصر اؤ حسن دومره پرېمانه ولې دے؟ اؤ هم دغه سړے د خپل عمر د تېرو شلو کلونو دتخليقي کرب نه چونړ انځورونه (غزلونه) پۀ لاس نن ستاسو مخې ته ولاړ دے-

----------

پۀ دې مجموعه کښې صرف د غزلونو شاملولو مقصد سېوا د دې نه نور هيڅ نۀ دے چې د ټولو نظمونو پۀ شاملولو د مجموعې ضخامت زياتېدۀ اؤ کم نظمونه شاملول ما نۀ غوښتل، ځکه نو کۀ ژوند وۀ نظمونه به بيا شي.

رياض تسنيم

۲جنوري ۲۰۰۴

کراچۍ

دریاب ڈاٹ نیٹ
DARYAAB.NET

# د دویم چاپ په حقله

ماچې نهه، نهه نیم کاله وړاندې دا کتاب د چاپ د پاره تیار کړۀ نو هغه وخت زماپه وهم و ګمان کښې هم نۀ وه چې د دې به لا د دویم چاپ ضرورت پېښیږي- خو دا یا زما خوش قسمتي وګڼئ یا زما د شعر د مئینانو مینه اؤ خوښه، چې زۀ ئې ، یو ځل بیا د دې کتاب چاپولو ته راؤپارولم-وړومبے ایډیشن شپږ کاله وړاندې ختم شوے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

وۀ اؤ زما سره ئې يکي يوه کاپي د نمونې د پاره پاتې وه
–
د اول چاپ پۀ وخت ما قصداً اؤ ارادتاً پۀ کتاب کښې د فلېپ نه علاوه ديباچه يا مقدمه چاپ نۀ کړه – خو د دويم چاپ د پاره مې دډېر محترم ملګري پروفېسر محمود اياز مقدمه شاملول ضروري وګڼل-
په دويم چاپ کښې څۀ لږه شان اضافه شوې حصه هم شامله ده – چې د دې سره پۀ کتاب کښې نوے والے مقصود وۀ –

د پښتو د غوره سبا پۀ ارمان

رياض تسنيم

اپريل۲۰۱۳کراچۍ

DARYAAB.NET

بدرګه کۀ محبت راسره نۀ وے
یک تنها به پۀ خونخوارو لارو تلل څوک

خوشحال خټک

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

خوشبوئي مې د لهجې حالونه وائي
چې د ګلو ښاخ مې زړۀ پورې نيولے

د يوسف نه ده زما الميه لويه
زۀ سکه ورونو کوهي ته غورځولے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

چې د خپل قد اؤخپل قوت نه مې سپوا وکړه
عاشقي دغه هومره ډېره وه چې ما وکړه

دړد مې د سترګو اؤ د شونډو نه يو شان څڅېږي
ژبه مې ګونګه شه کۀ ځان ته مې دُعا وکړه

شمعې ئې بلې د مقتل پۀ بورجلونو پرېښوې
دا ځل څۀ ډېره عجيبه تېوقه هوا وکړه

چې خپل وجود به رانه خپله ګواهي وغوښته
ما به همېش د يوۀ نوم نه ابتدا وکړه

زمکې يم پرېښے اؤ اسمان ته مې لاس نۀ رسيږي
پۀ کوم موسم کښې دې زما د سر سودا وکړه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

د قاف د غرۀ ننداره ځائې پۀ ځائې نيمګړې پاتې
زۀ بــه راځمــه دوبــاره، کــۀ ژونــد وفــا وکــړه

دا لارې ســترې دي زمــا د قــدمونو پــۀ شــان
تســنيمه! بيــا د کــوم ســفر دې تمنــا وکــړه

---

يو شعر

مرګ پۀ دومره ګمنامۍ کښې هم خوند نۀ کړي
نتيجــه خــو د عشــق څــۀ نــا څــۀ پکــار ده

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ښه ټوقه وشوه، چې دې زړۀکښې خواهشونه نور وو
پۀ ما د ګران لالي راغلي ګمانونه نور وو

ټوله دنيا وه د هغۀ پۀ تماشه کښې غرقه
زۀ مخکښې تېر شوم چې زما ضرورتونه نور وو

ما د سفر د ستړي والي ذکر نۀ پرېښودۀ
ښۀ پوهېدم، د هغو سترګو تپوسونه نور وو

مرګ وې زما د پاره نورې ذائقې راوړې
اؤ زندګۍ لاس کښې نيولي کنډولونه نور وو

زۀ يوه ورځ د کور نه دومره لرې تلے ؤمه
چې را واپس شوم دروازې اؤ دېوالونه نور وو

تسنيمه! لار مې د ګلاب وعدو خارله
خو چې وخت راغے د دې واړه ښار نيتونه نور وو

---

څۀ عجیبه ده، چې ستا خوا کښې بې ثمر شي سړے
لۀ خپل نظر پرېوځي، څۀ به معتبر شي سړے

دریاب ډاټ نیټ

لاړ شي پۀ کومه لاره؟ هره لار کښې تۀ ولاړ ئې
ستا د وجود لۀ سیوري څۀ رنګ رابهر شي سړے

ورسره ځي د خپل کالۀ د ډېوالونو خوشبو
چې تر تا اورسیږي ،هله در پۀ در شي سړے

DARYAAB.NET

دومره ښائست چې د دې ښار پۀ جام کښې نۀ ځائیږي
لۀ خپله خاکه پۀ کوم کوم پسې بهر شي سړے

دومــــــره اوږده ده ، دا د ځـــــان د پېژنـــــــدنې لاره
دومره اوږده ده ، چې بس ستړے په سفر شي سړے

ژونـد کښـې د هجـر نـه يـو ځـل راتېرېـدۀ پکـار دي
نور څۀ کۀ نۀ شي ، د ځپـل ځان نه خو خبر شي سړے

دریاب ډاټ نیټ

دا خلــق ولـــې د رنځـــورو ســـترګو حـــال پتــوي
تسنيمه ! درست دې عطردان ،تول دې اکر شي شړے

DARYAAB.NET

يؤ شعر

ستـا لاسـو کښـې هـم لکـه ګُـلاب د وچـو پـاڼو ريژمـه
دا پــۀ کــوم حســاب د زنــدګۍ لــۀ دائــرې ووځــم

تنهـا مـو وړے اؤ واپـس مـو زړۀ تنهـا راوړے
د محبـت تکـے ، دا چرتـه مـا اؤ تـا راوړے؟

د عاشـقانو پـۀ هجـوم کښـې ولاړ کـوم سـرونه
شها خبر ـ چې پۀ تلي کښې د ے سر چا راوړے

تېـر ځلـې چـا کـړي د شنډو پسـرليو نـه طمعـې
دا ځلـې کـوم داسـې تـازه خبـر هـوا راوړے

عاشـقي مـا هـم پـۀ خـالي لاسـونو نـۀ ده کـړې
دغـه مېـدان تـه غـټ جـاګير مـې د انـا راوړے

زۀ چینـار نـۀ وم ، خـو د غـم قـد سـره سـم ولاړ ؤم
پهلـوان نـۀ ؤم، خـو دا پېټـے مـې تنهـا راوړے

وې مې تسـنیمه! دا د کومـو خلقـو مینـځ کښـې اوسـې
وې ئې ، خوشحال غوندې سرې ترې، زړۀ تنها راوړے

---

DARYAAB.NET دریاب ذات نیټ

دا چې بې عشقه تېرېدۀ، چې بې آنا تېرېدۀ
وۀ به ژوندون ، خو پۀ مثال لکه سزا تېرېدۀ

چې ستا د وصل زمانه ده، وخت پۀ لاس نۀ راځي
چې ستا د هجر زمانه وه، وخت پۀ چا تېرېدۀ

زۀ به د دې مېلې پۀ لويه تماشه کښې ورک ؤم
خو زړۀ د هرې تماشې نۀ ډېر جُدا تېرېدۀ

هريو سړے پۀ خپلو وينو اؤ خولو کښې ډوب وۀ
هر يو سړے لۀ خپلې خپلې کربلا تېرېدۀ

هلته لونګ د سره بن د دبستان ورېدل
د کوم کوم ځائې نه چې تسنيم غزل سرا تېرېدۀ

---

خبر د هر چا راغې خو، يو ستا څۀ خبر رانغې
زما دې پۀ تازه قسم، قسم دې باور رانغې

ما يو ځل خوب ليدلې وۀ، ما خوب کښې تۀ ليدلې وې
ما بيا داسې خوب ونُۀ ليد ، بيا خوب پۀ بستر رانغې

وورېدې وورېدې شپې واورېدې، د ښار نقشه بدله شوه
دا زړۀ مسافر تلې دې ،پۀ کوم يو سفر ؟رانغې

ټول خلق وائي يو جوګي ،څۀ داسې سِحر کړې دې
نمرهره ورځ راخېژي خو، پۀ مونږه سحر رانغې

دې تورو تورو غرونو کښې د زړۀ تبشۍ وهو ولې
دا خلق جانان ځنګ ګټې، بس دغه هنر رانغې

تسنيم ! څۀ عجيبه غوندې سړې مې هم سفر شولو
د کور نه بهر راغې خو ، د ځان نه بهر رانغې

---

DARYAAB.NET

پــري زاده ! زړۀ مــې چــوي لــۀ اضــطرابه
کــوم جــادو بــه تــا راپورتــه کــړي لــۀ خوابــه

پــري زاده ! زړۀ هــم تاتــه د ســپړ دو د ے
ستا پۀ وړاندې څۀ حجاب ، څۀ بې حجابه

دریاب ډاټ نیټ

پري زاده! يو تپوس مې پۀ مخ ليک د ے
اخلــم ســاه، کــۀ راتېرېــږم لــۀ عذابــه؟

پــــري زاده! لـــۀ ځنګلـــو تيرېـــدۀ دي
څـــۀ خبـــر ئـــې د ځنګلـــو لـــۀ ادابـــه؟

DARYAAB.NET

پــــري زاده! د فـــرات پـــۀ ژی ولاړيـــم
مــودې وشــوې تنــده غــواړم لــۀ دريابــه

پــري زاده! بــس پــۀ پونــده تاوېــدل دي
زنــدګي ده ، اؤ ســاتو ئــې لــۀ ســيلابه

پـري زاده! پـۀ قـدم کښـې ځکـه ورو ځـم
زۀ خبـــر يـــم د دې لارې لـــۀ ســـرابه

پـــري زاده! زۀ کـــۀ دا وارې وُدۀ شـــوم
هيڅ يو شور به مې راويښ نۀ کړي لۀ خوابه

پـري زاده! لاس مـې ايښـې دي پـۀ سـترګو
پـــال راؤباســـه زمـــا هـــم لـــۀ کتابـــه

پـري زاده! څـۀ خـوبي راکښـې ضـرور شـته
بـــې ســـببه خـــارج نـــۀ يـــم لـــۀ نصـــابه

پـــري زاده! د هـــوا اؤ خـــاورې شـــور نـــه
تـــا خبـــر کـــړم لـــۀ آتشـــه، هـــم لـــۀ آبـــه

پري زاده! ځان مې ښکل کړۀ ائينه کښـې
دا کـوم رنـګ مـې کشـيد کـړے لـۀ ګلابـه


www.sikaraam.com

پـري زاده! زړۀ چـراغ وړم پـۀ تلـې کښـې
لـرې ګـرځم ،لـۀ افتابـه ،لـۀ ماهتابـه

پـري زاده! د کـاروان اخـرے ګـرد یـم
دا د ے یم اؤ درنګ ساعت لۀ یم نایابه

پري زاده! خاموشـۍ مـې هـم نعـرې کـړې
د تسنیم پـۀ زړۀ کښـې درد د ے بـې حسـابه

---

یو شعر

دا خلق کـۀ د خدائـې نـه ویریـدلے نـو تسـنیمه!
دې خلقـو بـه پـۀ ځـان بانـدې ظلمونـه کـول ولـې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

## (حضرت سلطان باهو ته نذر)

خوب مې داسې وليد ، چې لوګے شه ترې خوبونه هُو
زۀ تنها ولاړ يم اؤ چاپېره اووۀ رنګونه هُو

ږدم پۀ ځان قدم ،ځکه قدم پۀ قدم تا وينم
عشق خو داسې لار ده ،چې ژوندي لرې رېګونه هُو

يو چينه مې خوا کښې بهېدله اؤ ما نۀ ليده
تندې وَم اخستے اؤ چاپېر وو سَرابونه هُو

عشق عجيبه جوګ مې اختيار کړے دے ، ګرم نۀ يمه
پښې ابله روان يم ، کۀ پۀ ځان مښم رنګونه هُو

کوم خوا ته چې ګورم اورېدے شي د مرشد آواز
دغه يو اواز پۀ ځان کښې ورک کړي اوازونه هُو

څنګه بۀ د علم اؤ معلوم درياب ته کوز شمه
ما پۀ يو الف پسې کنګال کړۀ کتابونه هُو

ځکۀ مې د شک هره پرده لۀ مينځه لرې کړه
زړۀ وۀ اؤ تسنيمه! زړۀ منل نۀ حصارونه هُو

---

DARYAAB.NET

پــۀ ذهنونــو کښــې ګــلاب کــرم لګیــا یــم
زۀ لــۀ هــرې دائــرې ووځــم لګیــا یــم

کــۀ درونــۀ رســم خــاورې خــو بــه بــاد کــړم
پــۀ مــزه مــزه دا لار وهــم لګیــا یــم

زُلیخــه د ډېــره طنــازه نــه مسـیکۍ ده
چــې پُنبــه پــۀ لاس بــولۍ لــۀ ځــم لګیــا یم

چــې زمــا دلاس د کرښــو نــه بهــر دے
زۀ یــو داســې ســړے یــار ګــڼم لګیــا یــم

هېــروَه مــې پــۀ ډاډه زړۀ، ګیلــه نشــته
زۀ لــۀ خپلــه یــاده هــم ووځــم لګیــا یــم

ښــۀ خبــر یــم ، چــې پــۀ کــور کښــې فقــط زۀ یــم
بیــا هــم خپلــه دروازه وَهــم لګیــا یــم

DARYAAB.NET

د خپــل مرکــز، د خپــل وجــود نــه ګرېــزان دي خلــق
د چــا جهنــډه ئې لاس کښې ؟ چاپسې روان دي خلق

د زنــدګۍ معنــی د خپلــو مــړو شــمار پــاتې ده
اوس پۀ تلاش د کوم خواهش؟ د کوم ارمان دي خلق

د خــود کشــۍ پــۀ لــذتونو دې مــاړۀ کــړل دومــره
چې اوس کاڼۀ دي ، هم ړاندۀ دي، هم ګونګيان دي خلق

يــا لــۀ ښــاخونو رازوړنــدې زيــړې پــاڼې ړپــي
يــا د خپــل ســوچ پــۀ صــليبونو اوېــزان دي خلــق

DARYAAB.NET

چې وس ئې رسي ، د خپل سیوري نه هم لرې تښتي
هغه وخت راغے چې پۀ ځان هم بد ګمان دي خلق

دوئ بـه پـۀ کومـه خُلـۀ تپـوس د خپلې وینې وکړي
دا چې پۀ خپلو قاتلانو عاشقان دي خلق

تسنیمه! دغه ځائې کښې زړۀمې لړ لۀ ځانه بنۀ شي
چې زۀ کافر یم اؤ نور ټول مسلمانان دي خلق

DARYAAB.NET

یوشعر

د یـــوې ډیـــوې زرګونـــه دښـــمانان وي
لنـډه دا چې کلے بنـۀ دے پـۀ تیارو کښې

دا خپلې متې ګانه ږدو ، دا خپل سرونه ګانه
خو درکوے نۀ شو قلم اؤ نۀ خو بونه ګانه

مونږ سره هر سودا کوؤنکي تاوان نۀ دے کړے
مونږ د صديو پۀ نېته ږدو مشقتونه ګانه

څومره بې رنګه خوش فهمئ کښې زندګي تېرَؤم
خېمه زما خو د خېمې تول طنابونه ګانه

کال پۀ کال داسې نېستئ ، داسې حادثې راغلي
شي د زلمو ګټې ، د پېغلو پېزوانونه ګانه

د ښاريې د کفنونو سوداګرو لۀ بيا
ورکړل بلها ګلفروشانو دوکانونه ګانه

تسنيمه! مونږه يو بې شکه د سبا مجرمان
چې مو د خپلو بچو هم کړل نصيبونه ګانه

دا بـه عجبـه وي کـۀ سـتا ترڅنګـه ښـاد شـو مـونږ
بس دومـره وشـوه چـې تـر عـمـره هجـرزاد شـو مـونږ

کـۀ سـتا د سـترګـو نـه راپرېوتـو ، نـو پرېوتلـو
کۀ ستا پۀ شونډو شـو اباد ، نو بیـا اباد شـو مـونږ

دا چې پۀ تا رنګـونـه ووري اؤ پـۀ داسـې حـال کښـې
دا به زمونږه خوش بختـي وي کـۀ دریـاد شـو مـونږ

تـۀ چې رایـاد شـے لکـه تـک سـرۀ ګُلاب وغـورېږو
چې ځان مو یاد شي لکه سرۀ رېګونه باد شو مـونږ

DARYAAB.NET

بيـــا بـــه د دړد د ښـــاريې پـــۀ هـــر درشـــل ولاړ يـــو
تـــا کـــۀ مـــو بيـــا تپـــوس کوۀ، تاتـــه کـــۀ يـــاد شـــو مـــونږ

دا چې خواهش د مرګ مو هسې ورځ پۀ ورځ زياتيږي
ګنـــي پـــۀ مـــرګ بـــه ســـتا د ســـحر نـــه ازاد شـــو مـــونږ

پـــل چې ايـــږدو تسنيمه! زمکـــه رانـــه منډې وهـــي
دا کوم ساعت د ے، چې بې پير اؤ بې اُستاد شو مونږ

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

يو شعر

ټولـــۀ ورځ ئـــې د خپـــل ځـــان تماشـــه وکـــړه
زړۀ د ډکـــې ښـــاريې ميـــنځ کښـــې ولاړ د ے

چې په هیڅ یو صورت ځي ، نهٔ
غم سړے تنها کوي ، نهٔ

د هغهٔ زړهٔ کښې پټ خوښ یم
چې مې پټ زړهٔ کښې ساتي ، نهٔ

تماشهٔ ئې کړم عالم ته
خود زما تماشه کړي ،نهٔ

ستا د خیال مهربانې ده
اوس مې خیال ته څوک راځي، نهٔ

هنګامه ضروري ډېره
ژوند څوک داسې تېروَي ، نهٔ

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دا کـــوځې مـــې دي ســـتائيلي
مـــا بـــه ولـــې يـــادوي ، نـــهٔ

چـې ئـې وچـې پـانې ګـل کـړې
مـــا بـــه ولـــې ګـــل کـــوي ،نـــهٔ

ورونــــو مصـــــر تـــــه راوســـتے
اؤ بـــولی لـــهٔ څـــوک راځـــي ، نـــهٔ

شـــپه دې نـــوره هـــم ووړده شـــي
خـــو د زړهٔ شـــمعې دې مـــري ،نـــهٔ

د بېنـــاؤ ســـترګو عـــذاب دے
پـــهٔ توکـــل ده شـــاعري ، نـــهٔ



دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

څۀ تصوير چپ ، څۀ ائينې چُپ دي
تسنيمه! ټولې هنګامې چُپ دي

دا ناشنائي اؤ مختصر ملاقات
سترګې د ېرڅۀ وائي کۀځُلې چُپ دي

خپلې نعرې مې پۀ ځپيړو وهي
چې ټولې بندې دروازې چُپ دي

کوم يو سړي ته ياد د وينو حُرمت
ولې دبُدھ مجسمې چُپ دي

لاره ابـاده د قاتل د دوکان
قامونه چُپ دي، قبيلې چُپ دي

تسنيمه! دا چُپتيا قيامت کښه، چې
ياران د ژوند د ښارېې چُپ دي

دریاب ڈاټ نیټ
DARYAAB.NET

## خوشحال خټک ته نذر

لـهٔ دړدونـو دا بـاغي سـينې مـو شـوري
خـو دا خپلـې ناچـارۍ مـو همېش زوري

تـورې شـپې د تنهـائۍ څـادر اغـوستے
همدمي مو دا سپوږمۍ کا اؤ نهٔ ستوري

کرښـــه کرښـــه زبـــاني ده ورتـــه يـــاده
خلـق بيـا هـم روزانـه پالونـه ګـوري

نمـــر پـــهٔ ټکنـــده غرمـــه پښـــتنه وکـــړه
چې رڼا ئې غوښـته، لاړل پهٔ کوم لوري؟

پهٔ قسمت ئې محروميانې يقيني شوې
مـونږ بچـو لـهٔ وګټـل د کتـاب تـوري

نااشـــنا بـــه دومـــره نـــهٔ يمـــه تســـنيمه!
چې دا څومره راته لارې څير څير ګوري

جنګ همېش د ګټې چا زده؟
د هغو سترګو شهلا زده

دا زما المیه چا زده؟
چې پهٔ ما ده، نو هم ما زده

فنا زده د ځینو ځینو
محبت د ے د هر چا زده

مدعا مې نوې نهٔ ده
اؤ زما مدعا تا زده

لونګ څهٔ وي؟ ګُلاب څهٔ وي؟
خوشبویانې د هوا زده

تهٔ مې وژنه اؤ زهٔ نهٔ مرم
دغه ستا زده اؤ دا ما زده

دریاب ڈاٹ نیٹ
DARYAAB.NET

يــوه اســره هــم غنيمــت د ے د ژونــدون د پــاره
د ائينو سترګې رندې مۀ شه بې نوره ښاره!

ماښــام ذرې ذرې ســر ږده د تنهــايۍ پــۀ لېچــو
ســحر راپاڅــه اؤ د ښــار پــورې وږونــه شــماره

سبا کۀ هر يو عذاب راغـے، نو تيار اوسېږۀ
نــن خــو تمــام ملنګــان کــړې بــاروې لــۀ ښــاره

ســتا نــه د درســتو خطيبــانو دســتارونه لــوګے
څــومره لــذت لــرې زمــا د ګنــاهونو بــاره!

تسنيمه! ليک مو پۀ نصيب هغه زړۀ چاؤد ے سفر
لارؤ تهولــه زنــدګي کړلــه بربــاد پــۀ لاره




دریاب ډاټ نیټ DARYAAB.NET

چاتــه خــو مــو عــيــب اؤ هنــر نــۀ ښــکاري
ښــۀ ده چــې اثــار د ســحر نــۀ ښــکاري

وائي "د کوم سېل نۀ پاتې شــوے ئــې؟"
چاتــه مــې دا ســوي وزر نــۀ ښــکاري

ښــۀ شــوه ، لــۀ احتيــاطــه تنـګ راغلــے ؤم
اوس مــې دغــه پيــتــے پــۀ ســر نــۀ ښــکاري

يــا زمــا خبــر کښــې واقعــه نشــتــه
يــا مــې واقعــه کښــې خبــر نــۀ ښــکاري

دا د کــوم ســفر نــۀ پســتنه راغلــم
نخښــې مــې پــۀ مــخ د ســفر نــۀ ښــکاري


www.sikaraam.com

يو عجيبه داغ مې پۀ دې زړۀ کښې دے
غواړم چې ښکاره شي مګر نۀ ښکاري

هر څۀ نه بهر شولو تسنيم ولې
ستا د دائرو نه بهر نۀ ښکاري

يو شعر

سترګې ګُلاب پاشي غړيږي ، نۀ
د وصل خوب دے پوره کيږي، نۀ

DARYAAB.NET

هــره تمنــا دې اور ، همــه بــدن ګـُـلاب ـــ يَـه بـلا دې واخلمـه
دغه لار کښې پروت دے ـ دشت د هجر ،مسلسل عذاب ـ يَه بلا دې واخلمه

دغــه ټکـور شــونډې ، مســيحا سـترګې منمـه خـو، زخـم دا ځـل ډېـر ژور
دا ځـل بـه راتـول نـۀ کـړې ، دا پـاڼې پـاڼې خـور کتـاب ـــ يَـه بـلا دې واخلمـه

نۀ دې ذهن سوال کوي، نۀ سترګې دې حېرت لري ـــ څۀ پۀ ځان پوهېږې هم
څـومره دې محـدود سـاتمه زۀ،لکـه د سـکول نصـاب ـ يَـه بـلا دې واخلمـه

اوس دې نصيب خپل،چې ګل ساري کۀ سنګ ساري کوي ـ دغـه ښار لۀ څۀ بـاور
يو لاس کښې ئې شنۀ کاڼي دي ، بل لاس کښې ئې سرۀ ګُلاب ـ يَه بلا دې واخلمه

دواړه لاس اوچت ، اؤ د اسمان پۀ لوري ورک نظر ـــ دا خلق پاس څۀ ګوري
بنــد دے د مــودو نــه ،د دُعــا د قبلولــو بــاب ـــ يَــه بــلا دې واخلمــه

داسې يو درياب شته ، چې سينه ئې تندې وسوله ـ يَه تسنيمه ! څوک خبر
څنګ پۀ دې درياب ورکړم ، د سترګو ټول عمري سراب ـ يَه بلا دې واخلمه



www.sikaraam.com

نۀ زۀ د چا پۀ مثال شوم ، نۀ څوک زما پۀ مثال
زړۀ عجب څيز دے ، لا پۀ دې حالت کښې نۀ دے خوشحال

دریاب ډاټ نیټ

اوس چې قدم پورته کؤمه پۀ خپل ځان يې بړدمه
ما خو ګڼله دا دُنيا د خپلې لارې د يوال

ستړکې د څومره منظرونو نه راتېرې شولې
دهر تصوير پۀ شا مې وليديو تصوير د زوال

DARYAAB.NET

د کومې مياشت پۀ طاقو شپو کښې خدائې قبوله کړله
ما به غوښته يوه دُعا اؤ دُعا ستا د وصال

کـــۀ ســـمرقند اؤ بخـــارا اؤ پېښـــور نـــۀ لـــرم
دا شـين زړګـے خـو د رکـوے شم،سـتا د زنـې پـۀ خـال

دا ائينـــې زمـــا د زړۀ د حـــال نـــه څـــه خبـــر دي
دا چـې زمـا خـدو خـال دي ،نـۀ دي زمـا خـدوخال

لارې وَهـــو د ناليـــدلو خلاګـــانو پـــۀ لـــور
تسـنيمه! کـوم جـوګي لـۀ ورشـو ، پـۀ چـا وګـورو پـال

يو شعر

چـې خـوارۀ د شـاعرۍ ئـې رانـۀ هېـر کـړل
خـــط وخـــال دي د بـــدن واړه منظـــوم دي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

## رحمان بابا ته نذر

هـر کنـډر ئـې مجسـم غونـدې فريـاد دے
اؤ تــهٔ وائــې چـــې د زړهٔ کلـــے ابــاد دے

ستا غمونه ئې د ځان پهٔ سيورې ځائې کړل
زمـا قـد چـې نـهٔ چينـار اؤ نـهٔ شمشـاد دے

نــور د خلــې پــهٔ قســمونو لــوبې وشــوې
يــو د لاس د پاســه لاس قــول مــې يـاد دے

هـر يـو لفـظ مـې لکـه ګـل هسـې غـوړيږي
ګُـل ګُـل شـونډو چـې بېګـا راکـړے داد دے

د قلــم وينــه تــو کــل زمــا پــهٔ واک کښــې
پــهٔ تېشــۍ غــر کنســتل کــار د فرهــاد دے

"چــې دا نــور شــاعران کانــدي ، هغــهٔ نــهٔ کــا
رحمــن کــړے نــوے نــوے اجتهــاد دے"





DARYAAB.NET

ښـهٔ پوهېـدو چـې پـهٔ خپـل سر مـو بـادولې خـاورې
سرهٔ مـو دروړل اؤ پـهٔ بدل کښې مـو راوړلـې خـاورې

دا سـتا د وصـل د لـوئې کبـر نـهٔ مـې ويـره کيـده
دا چـې پـهٔ هـره سـاه مـې خلـې تـه اچـولې خـاورې

څومره سپوږمۍ ، څومره نمرونه ئې رانسکلې ځان ته
دا پـهٔ خپـل زور بانـدې پـهٔ حقـه نازېـدلې خـاورې

نـور د سـفر د لاحاصـل اؤ حاصـل څـهٔ حکايـت
بـس دومـره ده چـې د ښـو نـهٔ مـې څنـډلې خـاورې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAR.NET

هغـهٔ وخت چرتـه وي ، پـهٔ مـا ټولې مئینې سترګې
چـې زمـا غـم کښـې د پوالونـو رژولـې خـاورې

نـور د وطـن د مینـې غـټ ثبـوت لـهٔ کومـه راوړم
خلقـو رامبـل لټـول مـا ئـې بـو ئیـولې خـاورې

تسـنیمه! څـومره ابـدي وي دا د خـاورې رشـتې
چـا ژړل خـاوره پسـې ، چـا پسـې ژړلـې خـاورې

DARYAAB.NET

یو شعر

مـړ بـه ضـرور وي ټـول عمـري مسـافر
تسـنیمه لاړې چـې خفـه دي

لــــهٔ مرغــــانو اثــــر اخلـــئ کلــــه کلــــه
خونـــد مـــزه د ســـفر اخلـــئ کلــه کلــــه

تورې شپې مو پهٔ رګونو کښې دېره شوې
رڼــــا ګــــانې د نمــــر اخلـــئ کلــه کلــــه

معجــزې لــرې د میانــدو بــوډۍ ســترګې
تـــرې دُعـــا د ســـفر اخلـــئ کلــه کلــــه

دلتــه رنـــګ اؤ خوشــبویانو قــدم ایښــے
بلاګـــــانې د وَر اخلــــئ کلـــــه کلــــــه

دروازې د انتظـــار وېنـــو کـــړې ختمـــې
د کورونـــــو خبــــر اخلـــئ کلـــه کلــــه

دا پـــردي غمونـــه پیتـــې ګڼـــئ خبـــر د ے
خــو دا پیتـــې پــهٔ ســـر اخلـــئ کلــه کلــــه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ساده لکه زمونږ د ارمانونو پۀ رنګ نۀ دے
يو مخ چې د پرانستو کتابونو پۀ رنګ نۀ دے

تړه مې بند پۀ بند خو پۀ زنځير د محبت ـ چې
زنځير دغه د نورو زنځيرونو پۀ رنګ نۀ دے

لۀ هرې خوا ئې ګوره يوه ستا نامه ليدے شي
دا زړۀ دے زړۀ، د ښار د دېوالونو پۀ رنګ دے

زمونږ د سينې زړۀ دے، خو پۀ شان د تاج محل دے
زمونږه د جونګړو اؤ شپلونو پۀ رنګ نۀ دے

تر عمره پۀ يو غم اؤ پۀ يوۀ حالت کښې اوسي
تسنيم ، د کراچۍ د موسمونو پۀ رنګ نۀ دے

DARYAAB.NET

پۀ هغه وخت کښې چې د سرومال قاتي وه ډېره
ما چې دا زړۀ بازار ته راؤړۀ ، ارزاني وه ډېره

خلق سېلاب سېلاب روان وو پۀ څلور اړخه
خو هره لاره اؤ کوڅۀ کښې ځان ځاني وه ډېره

څوک مړېدل بيا پۀ ديدن د هغه مخ اؤ سترګو
دې خواهشونو تېره کړې تنهائي وه ډېره

بيا هم تېښتې پۀ لاس روان وۀ څوک د غره پۀ لوري
ګني دې لويه ښاريه کښې مزدوري وه ډېره

مونږه دې خپلو شيشه زړونو تنها کړي همېش
مونږ له فقط د يو نظر هم بې رُخي وه ډېره

نۀ د فقير پۀ خُلۀ دُعا ،نۀ نيم کښو وَرونه
پۀ دغه کلي کښې تسنيمه! ناچاري وه ډېره

تــورو تــورو شــپو غېــږ کښــې نيــولے يــم
زۀ د کــــم نصـــيبه خلقـــو کلـــے يـــم

ســوچ کـــؤم خــو هيـڅ هــم رايـا د يـږي نـۀ
څـــۀ پســـې لـــۀ کـــوره راوتلـــے يـــم

زۀ بــه پــۀ خــوا لاړؤم لــۀ دې ښــاره خــو
ســتا د سترګوسـت تــه ښــه نيــولے يــم

تــۀ بــه يــوه ورځ خــالي درشــل ځــارې
زۀ بــــه زنـــدګۍ چرتـــه وژلـــے يـــم

شــور دے اؤ پــۀ شــور د خاموشــۍ پلــو
يَـــه تســـنيمه! دا چرتـــه راغلـــے يـــم

## رحمن بابا ته نذر

د زنځیر کړۍ کړۍ مې هر ارمان شۀ
لویه خدایه ! دا خپل کور راته زندان شۀ

یو د خاورو کنډولے ذرې ذرې پروت
دا بې صبره زړۀ پۀ ما باندې تاوان شۀ

نۀ چا ګُتې پرې کړې ، نۀ ئې څوک تپوس کړې
ستا یوسف څومره پۀ مصر کښې ارزان شۀ

یو کنډر ئې لوئې ثبوت د بربادۍ دے
دوباره کۀ دا ښار هر څومره ودان شۀ

نمر هم ځان د تورې شپې کفن کښې ونغښت
یو ناکامه سرے هم کورته روان شۀ

عشق د وصل مرحلو کښې یو ګران کار وۀ
چې د هجر مرحله راغله اسان شۀ


www.sikaraam.com
DARYAAB.NET

خلق وائي چې پۀ ګُل هم تۀ ویشتل کړې
یو زمونږ پۀ زړۀ کښې خاورې دا ارمان شۀ

یوې پېغلې پۀ زیارت شکرانه کښېوه
یو لالے د لرې ملک نه راروان شۀ

یو زرګر ورته نیم نیم نۀ پاتې کیږي
یو بدن د سرو اؤ سپینو زرو کان شۀ

خلقه! کړې ګرځول زمانه زده کړئ
چې مې زور پاس پۀ اوږو د کور سامان شۀ

چې د سترګو کچکولونه ئې نسکور کړل
یو ملنګ پۀ ملنګۍ کښې شاه جهان شۀ

یو رحمن ، پۀ سره بن کښې ګل پاشي کړه
یو تسنیم پۀ کراچۍ کښې غزل خوان شۀ

د شهزادګانو په محل کښې شهزادګۍ اوسېږي
دنيا د خوب کښې لېونۍ انار کلۍ اوسېږي

نۀ د دنيا د جواب يو ، نۀ تا تۀ غټې کتے شو
زمونږه سترګو کښې څۀ داسې بې وسۍ اوسېږي

زمونږ جامې ريښې سهي ، خو سوداګرو د ښار
زمونږ خوبونه کښې به هم ځوک ښاپېرۍ اوسېږي

يوه چُپتيا اؤ د نظر تر حده توري تيږي
خلقو وئيلي کوهِ قاف کښې ښاپېرۍ اوسېږي

تسنيمه! مونږه يو فقير پرون لۀ کلي ويستے
ځکۀ ذهنونو کښې وحشي پريشانۍ اوسېږي

زړۀ کښې بدل د خپلې تېرې زمانې اخلم
دا چې د ښار د بربادیو نه مزې اخلم

ویره کۀ ده، دخپل اواز د ورکېدو ویره ده
دا چې قدم بهر لۀ هرې تماشې اخلم

داسې هم نۀ ده چې د سر دښمنان نۀ پېژنم
بس د دې خلقو د خبرو نه مزې اخلم

هر شهزاده لۀ کوهِ قافه زوړند سر راروان
تسنیمه ! اوس ایله خوندونه لۀ قیصې اخلم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ژوند نۀ محروم ، څۀ کۀ د ژوند پۀ رهګزر پراتۀ يو
هم مرو لـه تنـدې هم پۀ غـاړه د کـوثر پراتـۀ يـو

نـور څـۀ کـۀ نـۀ يـو د منـزل د لارې خـاورې خـو يـو
مـونږ هرقـدم کښـې خاونـدانو د نظـر ! پراتـۀ يـو

دومره لوئې ښار کښې يو دوکان د جوهري نشته دے
څۀ کۀ پۀ موتي کښې د وخت لکه ګوهر پراتۀ يو

شپه اؤمرګونې تنها ئي موداسې غير کښې واخلي
مـونږ مسافر پۀ خوب وودۀ بيا تـر سحر پراتۀ يـو

تسـنيمه! وريځـې د کـړو شـپو پـۀ نيت اؤ مـونږه
کچـه منګـي پـۀ سپين ميدان د کـوزه ګـر پراتـۀ يـو

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دا دومـــره لار وَهـــل ، يـــاره وړه خبـــره نـــهٔ وه
ځـــان تـــا تـــه رسَـــول ، يـــاره وړه خبـــره نـــهٔ وه

ځانونـه مـو پـهٔ لار لکـه د ريـګ د ځلـو بـاد کـړل
خپـــل ځلـــي بـــادول ، يـــاره وړه خبـــره نـــهٔ وه

دا خلق چې ئې ځومره ځومره زړونه د پښولاندې
د دوئ نـــه ځـــان ګڼـــل ، يـــاره وړه خبـــره نـــهٔ وه

پـهٔ ځـان باندې مـې ځومره پـهٔ اسانه قـدم کيښـود
خـــو ســـتا کبـــر وژل ، يـــاره وړه خبـــره نـــهٔ وه

تســـنيمه ! چرتـــه زهٔ اؤ چرتـــه هغـــه زړښې ســـترګې
دې زړهٔ تـــه مـــې وئيـــل ، يـــاره وړه خبـــره نـــهٔ وه

دائــــرې دي پـــۀ خنـــدا زاويـــــې خانــــدي
د ښائســـت د نــاپ همـــه پيمــانې خانــدي

څــۀ ســاده بــاده لفظونــه معنــى خيــز شــو
ســتا لــۀ شــونډو راپرېــوتې غُنچــې خانــدي

ســـتا د ســترګو د حيــرت پــۀ تماشــه دي
ســـتا د مــخ د کتــاب واړه صــفحې خانــدي

مــا بــه ولــې کتــوري غوښــتل لــۀ زاړــو
لکــه ګُــل پــۀ هغــو شــونډو وعــدې خانــدي

چــې تــا وينــم تنهــائي مــې يــو پــۀ دوه شــي
ائينـــو تـــه مخـــامخ ائينـــې خانــــدي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

خوشـــحالي اؤ غـــم پـــۀ يـــو کربـــه بېليـــږي
شـــمعې اوښـــکې څڅـــوي اؤ شـــغلې خانـــدي

څـــۀ ناوياتـــه خوشـــبوئي خـــوره تســـنيمه!
لـــۀ اثـــره ئـــې دا لارې کـــوڅې خانـــدي

يو شعر

زمـــا د لاش نـــه ګېـــر چـــاپېره عـالمونـــه ولاړ
ماتـــه د کـــټ پـــۀ بـــازو ناســـته تنهـــائي ژړيـــږي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

يو بې وسی مو آرزوګانې اؤ سيالی سوې دي
تسنيمه! اور د چاپير چل راله ځوانی سوې دي

نۀ مو پۀ وړاندې تګ ممکن ، نۀ پستنه څۀ اسره
دلته موجنګ بائيللے ، هلته مو کشتی سوې دي

ځان ته د امن سالاران اؤ انسان دوسته وائي
چاچې د تي د ماشومانو ځانګوتی سوې دي

بيا د موسم د ستمونو نه ګيلې ولې کړي
خانه بدوشو چې د سر سيوري کپردی سوې دي

تسنيمه! دې کلي کښې قات دے د نغمو راروان
زمونږه دور د شپنو خوږې شپيلی سوي دي

دریاب ڈاټ نیټ
DARYAAB.NET

زړۀ کښې مې يوه جينۍ
ګل جينۍ ، وړمه جينۍ

ژوند لکه د زهرو کوټ
شاتو نه خوږه جينۍ

پر پۀ کوهِ قاف وهي
ده پۀ خوب ووُده جينۍ

هر تصوير هغه تصوير
لور پۀ لور هغه جينۍ

تکې سپينې واورې لاس
دا سپوږمۍ هم ده ، جينۍ

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

زړۀ لکـــــه ملنـــــګ ولاړ
بنــــده دروازه جينــــــۍ!
ستـوريو! اوس بـه چرتـه وي؟
عطرو کښې خوشـته جينـۍ

يَـه دروازې! خيـال کـوه
ده د بـاد چپـه جينـــۍ

ستـا د شـونډو رنـګ لـري
زخـم دے تـازه ، جينــۍ!

بـار پـۀ خپـل خـاطر يمـه
راکـــړه حوصـــله ،جينـــۍ!

ځـــان نـــه مـــرور يمـــه
مــا پخُــلا کــوه جينـــۍ!

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

خــاورې نــولم څنــګ پــۀ ســر
بــس تماشــه کــړه ، جینـــۍ!
دوئ زمـــا اؤ ســـتا څـــۀ دي
دا خلـــق پرېـــږده ، جینـــۍ!

هـــر "نـــن"د"ســبا"پــۀ نــوم
ځـــان دهوکـــه کـــوه جینـــۍ!
مـــۀ پوښـــته معنـــا د ژونـــد
شـــپې ســـبا کـــوه ، جینـــۍ!

شـــمېره د ســـر ســـپین ویښـــتۀ
لارې مـــــۀ څـــــاره جینـــــۍ!
مـــونږه تـــول نیمګـــړي یـــو
دلتـــه څـــوک پـــوره ـــ جینـــۍ!

DARYAAB.NET
دریاب جات نیت

داڅۀ يـاري ، څـۀ ئـې معنـا ، تنـه نـا هـا يـا هـو
نـۀ تـۀ زمـا ئـې ، نـۀ زۀ سـتا ، تنـه نـا هـا يـا هـو

دوه ډ يوې سترګې اؤ پۀ وړاندې لښکرونه تيارې
تنـه نـا هـا ، تنـه نـا هـا ، تنـه نـا هـا يـا هـو

مـونږ بـه پۀچُپـه څُلـۀ وي ځـان پـۀ تېزنـدئ وژلے
مـونږ پـۀ ځـان نـۀ کـوؤ غوغـا ، ، تنـه نـا هـا يـا هـو

څـومره تـودې سرې شـوې تېـرې اؤ تېريـږي څـومره
هـيڅ خبـر نـۀ شـوله شـها ، تنـه نـا هـا يـا هـو

خـدائې خبـر بيـا بـه يـو بـل پيژنـو پـۀ څۀ حوالـه
ښـار پـۀ وږو پـروت د هـوا ، تنـه نـا هـا يـا هـو

تسنيمه! هر څو کۀ ئې لنګ کړې مصّلې پۀ عشق کښې
زړۀد رحمـن هـم وۀ تنهـا ، تنـه نـا هـا يـا هـو

څـــوک دي چـــې تانـــه عزتونـــه مرتبـــې غـــواړي
دا ښـــاريه فقـــط د امـــن ورځـــې شـــپې غـــواړي

څۀ به دې حال کښې د وجود پۀ دشته ځان اباد کړم
کـــور د ېوالونـــه ، د ېوالونـــه دروازې غـــواړي

بـــس دا مـــلال چـــې دومـــره خـــاورو بادولونـــه پـــس
رانـــه هغـــه ســـترګې د هجـــر حـــوالې غـــواړي

هغـــه شـــها د ارزوګـــانو پـــۀ دُرشـــل ولاړه
خـــو شـــرط ئـــې دا چـــې د ســـرونو مُنـــارې غـــواړي

تـورې تيـارې پـۀ مـخ راکـاږي اؤ خپـل وخـت تېـروي
تســـنيمه! دا خلـــق ســـحر اؤ نـــۀ ډيـــوې غـــواړي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

راتلـه راتلـه اؤ پـۀ کـوم ځـائې کښـې شـوه د پـره خاموشـي
دې خبـــر لوڅـــه شـــونډو کلـــه پېژنـــده خاموشـــي

د هغـــې خـــوا نـــه د بلهـــا بلهـــا ســـوالونو جـــواب
يـــو پـــۀ خـــلا کښـــې ورک نظـــر ، يـــوه وورېده خاموشـــي

وايـــه د دې دوزخ نـــه لـــوئې د کـــوم دوزخ عـــذاب د ے
زۀ، د خپـــل کـــور پـــورې وَرونـــه، تـــوره شـــپه ، خاموشـــي

زۀ بـــه زنځيـــر د خپلـــو لاســـو ، تـــۀ بنګـــړي شـــړنګوه
چې وس دې رسي ، د ځـان خـوا کښـې مـۀ پرېـږده خاموشـي

بـــس يـــو کچـــه منګـــي اؤ يـــو ارمـــان چـــې جـــوړې کـــړې
پـــس د هغـــې نـــه پـــۀ دريـــاب شـــوله خـــوره خاموشـــي

تســـنيمه! غـــم د خاموشـــۍ غيـــږ کښـــې پرتـــه هنګامـــه
اؤ زمـــونږ غـــم ، د هنګـــامو غيـــږ کښـــې پرتـــه خاموشـــي

چــې زرګــر زړۀ تــه خــوارۀ دي
دا د چــا د بـــدن ســـرۀ دي

څــوک تــرتــا دي رســېدلي
ژونـــد پـــۀ لاره لاره تلـــۀ دي

پـــو انبـــار پـــرې د خوبونـــو
بانـــه ځکـــه تـــول کـــارۀ دي

تصـــويرونه لکـــه فـــريم کښـــې
خلـــق تـــول دننـــه مـــړۀ دي

ســـيوري کلـــه رانيـــوۀ شـــي
خـــو اَســـرې د ناکـــام زړۀ دي

خـــدائې ګـــو ښـــۀ رښـــتيا دې ووې
څـــوک د چـــا لـــۀ غمـــه مـــړۀ دي

دریاب اتږنیټ
DARYAAB.NET

د خپل سفر د عجب ستوري پۀ ولقه کښې زۀ ؤم
لـۀ دائـرو کـۀ وتـم، بيـا هـم دائـره کښـې زۀ ؤم

يـوه مـوده زۀهـم د "زۀ" پـۀ معنـى نـۀ ؤم خبـر
اؤ چې خبـر شـوم ،بيـا پـۀ هـره ائينـه کښـې زۀ ؤم

تـا بـه زمـا ذکـر د کـومې واقعـې نـه ويسـتو
پـۀ څـۀ نـا څـۀ حوالـه هـره واقعـه کښـې زۀ ؤم

ستا جمال دهـريو رنګ سره مې کړې سيالي
د ګل رګونو کښې وې تۀ ، د ګل ورمه کښې زۀ ؤم

تمامـه ورځ مې د قبرونو شمار کښې تېره کړلـه
لکـه ژونـدے پـۀ دغـه لويـه هـديره کښـې زۀ ؤم

تسـنيمه! دغـه ماتـه تـوره اؤ د مـخ زخمونـه
دي ګواهـان چې د رښـا پـۀ قافلـه کښـې زۀ ؤم

نۀ پۀ معنا ئې خبر ، نۀ تعبير لري خوبونه
مونږ کم نصيبه خلق هر کال ژړوي خوبونه

دا ځل د هجر د شپو داسې شو ګيرو وهلے
اوس دې د خيال پۀ لښتو لېچو نۀ راځي خوبونه

ستا د بدن د خوب ليدو دعوی کولے نۀ شم
ما پۀ ګانه سترګو ليدلي تل پردي خوبونه

لږ نور د چُپو دريچو نه ننداره کړه ــ درنګ له
دا ښار به ونۀ پېژنې ، کۀ ېې ترې وړي خوبونه

لکه د کوندې پۀ پلو پورې تړلې روپۍ
تسنيمه! خلق پۀ احتياط زړۀکښې ساتي خوبونه


www.sikaraam.com

ووځـم پـه دغـه دروازه، کـه پـه دې لاره ووځـم
خـو پـه يـو لـور د نفرتونـو لـه دې ښـاره ووځـم

عشق که يو کار وي ، دغه کار مې مسلسل کړے دے
نـور داسې کـوم د کـار سړے ؤم چې لـه کـاره ووځـم

دا ځـل راکېـږ يـم د يـارانو سـوداګرو مېـنځ کښـې
خـدائې زده کـه داځـل سـلامت لـه دې بـازاره ووځـم

نه مې "خوبي" د خوشامد زده، نه څه بل څه "کمال"
زه لګـه زانـې مـات وزره لـه قطـاره ووځـم

د چـاپېرزو پـه ځـان خـو رزق پسـې هـره ورځـې
څـومره پـه نـه زړه سـتا دلېچـو لـه حصـاره ووځـم

تسـنيمه ! هـره شـېريني ئې پـه لهجـه کښـې نغـاړم
ډکـې منګـولې د رحمـن لـه غزلـزاره ووځـم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

لمحه لمحه راته د ژوند تمام رنګونه ښائي
خپل شکستونه راته لارې ګودرونه ښائي

زۀ د هنر پۀ طلب اؤ هغه رڼې سترګې
ماته خيالونه رابخښي ، ماته لفظونه ښائي

لکه يم زۀ د دړد د ښار يواځينے نابلد
هريو سړے راځي اؤ ماته خپل زخمونه ښائي

هرهغه کس مونږه د خټ لۀ غاړې وژني څوک چې
مونږ ته پۀ ګُته د دُشمن واړه صفونه ښائي

تسنيمه ! کله چې هم سخته مسئله پېښه شي
مونږ ته دا خپله ناچاري بلها چلونه ښائي

هجـــر رســيږي تـــر کمـــال ، پيـــره !
بـس يووصـال ، بـس يـو وصـال ، پيـره !

تـا تــه د حــال وئيلــو څــۀ حاجــت د ے
تـا تــه څرګنــد د ے زمــا حــال پيـــره !

دا ځلـــې هســـې رنـــځ نيـــولے يمـــه
نـــۀ ئـــې دوا شـــته اؤ نـــۀ پـــال پيـــره!

بـــې لـــۀ هغـــو دوؤ خنـــدنوکو ســـترګو
ټـول کائينـــات مـــلال مـــلال پيـــره !

داسې يو کور چې پۀ کور نۀ د ے حساب
نـــۀ لـــرم ورَ اؤ نـــۀ د يـــوال پيـــره !



درياب ډاټ نيټ DARYAAB.NET

تـا خـو وئيـل چـې عشـق زوال نـۀ لـري
پــۀ عشـــق راغلــے د ے زوال پيـــره !

چجــې چجــې ولاړ تــک تــور منګــري
نــور دې رانســايه خپــل کمــال پيــره !

يو شعر

خوبې مې دا وه چې پۀ يو دور کښې نۀ ؤم غلے
خامې مې دا وه چې مې تا تـه آواز نۀ رسېدۀ

DARYAAB.NET

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دواړه قيد يو روايت کښې
مزه نشته محبت کښې

فيصله دې د زړۀ وکړه
ولې ډيره پۀ عُجلت کښې

پۀ ما څۀ لوبې ونۀ شوې
زۀ ؤم ستا پۀ حفاظت کښې

يـــو دُنيـــا مـــې وليدلـــه
د رنځـــورو ســـترګو ســـت کښـــې

د خپـــل ځـــان پـــۀ ضـــد ولاړ يـــو
برابـــر يـــو دې صـــفت کښـــې

دليلونـــه درســـره شـــته؟
د خپـــل ځـــان پـــۀ حمايـــت کښـــې

تـــول د پنجـــو پـــۀ ســـر ګرځـــي
چانـــه کـــم دي څـــوک قامـــت کښـــې

د کورونـــو نـــه راوځـــئ!
څـــومره شـــور دے پـــۀ محلت کښـــې

نـــور خپـــې ســـېزل پکـــار دي
کمـــے نـــۀ راځـــي ظلمـــت کښـــې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

بیـــا د زړۀیـــوه آرزو وړمــــه وړمـــــه ده
لکــه پېغلــه د ځــوانۍ پــۀ خــوب ووده ده

تــر خــه ځکــه ده چــې عمــر ئــې ډېــر کــم دے
خــوږه ځکــه ده چــې ســتا د خُلــې وعــده ده

حــال مــو يــو بــل تــه د کــوم قيامــت ونــۀ وې
زۀ يـــم اؤ يـــوه خاموشـــه دريچـــه ده

د انســـان د زړۀ ســـکون پکښـــې عُنقـــا دے
درمســال دے ، کــۀ ګرجــا ده، کــۀ کعبــه ده

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

انســـانان پکښــې د ګُتــو پــهٔ شــمېر اوســې
تــش پــهٔ نــوم خــو ډېــره لويــه ښــاريه ده

خــو دا کلـے ســم د مــرګ پــهٔ خــوب وودهٔ وهٔ
ګنـــې مـــونږ وَهلـــې هـــره دروازه ده

حـــادثو تســـنيمه! څـــه لـــوبې ونـــهٔ کـــړې
خـو پـهٔ خلـې مـو هـم هغـه د ژونـد نغمـه ده

DARYAAB.NET

يو شعر

مودو نه د يوهٔ داسې جوګې نظر کښې اوسو
شمکور يُو پهٔ رڼا ورځې اؤ پښې ږدو پهٔ اورونو

یو د وصال رنګ ، د ژوند رنګونه واړه یوړل
دغه خوب مې سترګو نه خوبونه واړه یوړل

چا نه چې د رحم طمع هیچا نۀ لرله
ما ورله د عمر خواهشونه واړه یوړل

دریاب ډاټ نیټ

ګونګ پۀ ژبه نۀ ؤم خو د هغو سترګو وړاندې
څۀ خو مې د شونډو نه لفظونه واړه یوړل

بندې دروازې د ښائستونو پۀ ما وا شوې
ښار راته کتل اؤ ما ګنجونه واړه یوړل

تشې تنې ګرځي، خلق وائي ښار اباد دے
DARYAAB.NET
وخت داخل دځان سره سرونه واړه یوړل

مرګ خپله ماتم دے، خو د ځان سره تسنیمه!
یو سړي د کور برکتونه واړه یوړل

نېزې دي اؤ زمونږ غلبېل سينې دي ، اؤ ماښام دے
تسنيمه ! د کوفې د ښار کوڅې دي ، اؤ ماښام دے

تنها پکښې لوغړېږي اؤ تاريخ مرتب کيږي
دا زړۀ دے اؤ د خپل کالۀ ايرې دي اؤ ماښام دے

هرچا د خپلې خپلې خوښې تارترې شوکولے
پۀ لاس کښې مې د خپل پټکي ريښې دي اؤ ماښام دے

(ق)

سړيو ! خو بس د خپلو هډيو نه ګرد تاويږو
ګردونه دي اؤ ماتې پښې دي ، اؤ ماښام دے

سړيو ! د يوۀ بل پېژندګلو به کوو څنګه.؟
اغوستې مو پردې پردې څېرې دي اؤ ماښام دے

سـړيو ! دخپـل تصـوير ريـزې بـه اوس لتـوو چرتـه؟
ګانـړه سـتـرګې اؤ تتــې ائينــې دې اؤ مابـنـام دے

---

دا وخـــت اؤ تغـــزل ، دواړه جُــدا جُــدا خبـــرې
تسـنيمه ! غـزل څـۀ خـو مرثيــې دي اؤ مابـنـام دے

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

يو شعر

زمـونږ د هـرې ورځــې ابتــدا هســې رنـګ کيـږي
تــازه تــازه نعــرې لوَلــو دښــار پــۀ دېوالونــو

تا د سرو چړې راوړې وې تحفه کښې
مونږ پخپله پرې دا خپلې ژبې پرې کړې

پرېوتل د نصيب ستوري پهٔ هر لوري
زړونو ځکه د زخمونو ډېوې مړې کړې

ستا د خُلې خوارۀ مې واچول لهجه کښې
ستا غمزې مې رديفونه، قافيې کړې

قصور وار يو کهٔ ګيله قدرې مو وکړه
ګناهګار يو کهٔ دريادې مو وعدې کړې

غلې نهٔ شو چې ترڅو مو د زړهٔ زور وهٔ
مونږ د ښار پُنبه بګوشو ته نعرې کړې

د سفر پيتې مو سپک نهٔ شو تسنيمه!
زندګۍ راله ملاګانې راکړې کړې

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

د محبت پهٔ مخ مو خپله آنا ولیکله
د نوي سر نه دا قیصه ما اؤ تا ولیکله

تمام سفر وهٔ د تیارو د سمندر پهٔ سینه
خو پهٔ تختیٔ د خپل نصیب مو رڼا ولیکله

زۀ څـۀ څـۀ نـۀ شـوم خـو تـر تـا مـې ځـان راؤرسـوۀ
زمـــا قيصــــه وه د ليکلـــو خـــو چـــا وليکلــــه

نۀ پرې دستر ګوخوب راستون شۀ نۀ سکون د زړګي
تـش پـۀ خـلا کښـې سـتا نامـه مـو بلهـا وليکلـه

راتـــه د قــــاف د ښــاپيريو لاســـونه نـــۀ رارســـي
تـــامې پـــۀ زړۀ داســـې کـــم ســـنه ښـــکلا وليکلــــه

نـــور بـــه پـــۀ دې بـــې برکتـــه شـــونډو فخـــر کـــؤم
ســـتا پـــۀ منګلـــو ئـــې نامـــه د وفـــا وليکلــــه

پـــۀ ټولـــو يـــو شـــانې وه تېـــره واقعـــه د عـــذاب
خـــو چـــا ونـــۀ ليکلـــه دغـــه اؤ چـــا وليکلــــه


www.sikaraam.com

نۀ مې څوک یاد شو ، نۀ مې نوم د چا د بام واخست
تسنیمه! داخل مې د ځان پۀ لوزې ګام واخست

تور کې زمونږ د قسمتونو ګېر چاپېره وورې
سترګو دې رنګ چې د رانجۀ رانجۀ ماښام واخست

څومره پۀ تورو کښې دې سیورې د وجود خوارۀ کړل
څومره ارزان دې دا د زړۀ کلے تمام واخست

داسې د دې سترګو نه لاړمه هغو سترګو له
لکه د یو اقا نه بل اقا غلام واخست

خوره به خاموشي وي اؤ ماښام به ساندې وائي
نایاب به لیوني وي، اؤ ماښام به ساندې وائي

فریاد به دروازې وي اؤ نوحې به د دېوالونه
کورونه به خالي وي اؤ ماښام به ساندې وائي

دا لارې به دا ربګ اؤ ستومانیانې لري هسې
خو ورک به لاروي وي اؤ ماښام به ساندې وائي

دا تورې تورې څنې به وي سپینې انتظار کښې
اؤ خاورې به ځواني وي اؤ ماښام به ساندې وائي

اؤ ټول فرات به سور وي اؤ هر دشت به کربلا وي
اؤ تنده به باقي وي اؤ ماښام به ساندې وائي

ګلاب د خواهشونو به ټول پاڼې پاڼې ریږي
تالا به زندګي وي اؤ ماښام به ساندې وائي

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ستا ترځنګ مقابله د هرعذاب کړم
بیا د یاد په وخت دې هېر په کوم حساب کړم

یو نعره وه د ژوندون اؤ هغه زؤم
دې د شور ډکه فضا کښې دې نایاب کړم

اواره غونډې مضمون په شونډو پروت یم
نۀ دې کرښه ، نۀ دې پاڼه ، نۀ کتاب کړم

اذّیت مې دومره ځان باندې پېرزو شي
د عذاب د لارې خپله انتخاب کړم

دا ځواني د شوخ و شنګو په ارمان وه
شوخ و شنګو کښې فقط ستا انتخاب کړم

د وصال رنګ د لیدو وي هغه وخت چې
ستا د سترګو کتهوري ګُلاب کړم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

په جهان مې څۀ پروا
لاس کښې لاس لرمه ستا

کم سخنه، کم نما
کړه غنچې د شونډو وا

څۀ مې دين ، څۀ مې دُنيا
نۀ هغه لرم ، نۀ دا

زۀ، اؤ ستا نظر په ما؟
په جهان شومه يکتا

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

زۀ ، اؤ ســـــتا د لاس راؤړل؟
لکـــه ګُـــل ؤم د صـــحرا

زۀ ، اؤ دومـــره خـــوش زبـــان ؟
ســـتا د خُلـــې منـــت پـــۀ مـــا

يـــم پـــۀ داســـې رنـــځ اَختـــه
چـــې ســـتا لاس مـــې مســـيحا

ســـتا پُښـــتنه مـــې عـــلاج
ســـتا خبـــرې مـــې دوا

مرصّـــع غـــزل بـــدن
څـــوک ؟ هغـــه قـــد بـــالا

د ښائســـــت دوه ښـــــارېې
څـــوک؟ هغـــه ســـترګې شـــهلا

شـــپه کـــۀ وي زلفـــې ، بانـــۀ
شـــپه دې خُدائې نـــۀ کـــړي ســـبا

DARYAAB.NET دریاب انټرنیټ

محبت د ستر ګو نور
محبت د لاس آمسا

دا په کوم مقام ولاړ
شومه کوم ځائې کښې تالا
دا نشه مې درنه وړي
لاس دې راکا، لاس دې را

زړونه پانړې د ګلاب
څه باور دے په هوا

لکه تخم شوم زرغون
په بيديا نوستلے تا

غرونه کنم په کوم شان
افرين دې وي په ما

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ښارونه څۀ دي ، خو تش نوم دے د ښارونو پاتې
لکـــه بُتکــي بُتکـــي د تېـــرو تهــذيبونو پـــاتې

مونږ کۀ يوه بل له لاس ورکړو ، نو پۀ کوم اعتماد
پـــۀ مـــونږ قرضـــونه د زړو محبتونـــو پـــاتې

اخــر يــوۀ لېــوني بــاد کــړل پــۀ ځلــور اړخــه
زړۀکښــې ارمــان وۀ، د دې لارې د رېګونــو پــاتې

نمر مو سيزي خو د چنې سيورې تـه ځنګـه کښـېنو
دومــره بــاور نــۀ دے د کــور پــۀ دېوالونــو پــاتې

غــم ، ابــدي پرېشــانې، تــورې تيــارې ، زخمونــه
تســنيمه! دا مــو د لاس نخښــې د نيکونــو پــاتې

سم پـه مثـال د د پوالـۀ شـي سـړے
هر څـۀ دې شي تنهـا دې نـۀ شي سړے

تـــر لـــرې لـــرې د ســــرونو څنګـــل
تـر لـرې لـرې نـۀ ليـدۀ شـي سـړے

نۀ مخ د ے مخ، نۀ سترګې سترګې پاتې
قسـم پـۀ خـدائې کـۀ پېژنـدۀ شـي سړے

يـا خـو دې شـپه پـۀ بېـدارئ سبا کـړي
يا خو دې سم پـۀ خـوب وودۀ شي سړے

دا بـې حســې کــۀ لــړه نــوره زور شــوه
نقـش بـه اخـر پـۀ د پوالـۀ شـي سـړے

DARYAAB.NET

هالـۀ خوشـبو ، هالـۀ سـپرلے شـي سـړے
چې هغـو سترګو کښې سړے شي سړے

دومره لاتوان ئې پۀ وجـود کښې شـته دے
چې ځـان پـۀ خپلـه وُرِه ورے شـي سـړے

کــۀ نــۀ ځــي ، لاړه بــه پــۀ ځــۀ لنــډېږي
کـۀ ځـي ،ترکومـه اخـر تلے شـي سـړے

يــو رنــګ ئــې نــۀ دے چــې ئــې وپېژنــي
کلــه خنــدا کلــه زبيــرګے شــي سـړے

تســـنيمه! داعـــذاب ،جـــواب نـــۀ لـــري
کله چې خپل کور کښې پردے شي سړے



دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دا مـونږ کـۀ نـۀ وے، يَـه سـړيو! خبر بـه چا راؤړۀ
د دې بــې خبــرو د کوڅــو ، خبــر بــه چــا راؤړۀ

زۀ دې جهـان تـه ؤم ، د عشـق پـۀ معرفـت راغلـے
زمــا د ويښــو ويښــو شــپو ،خبــر بــه چــا راؤړۀ

زمکــې هــم خُلـۀ وه پټـه کـړې، اسـمان ونـۀ ژړل
زمـونږ د غـرۀ پـۀ شـان سـړيو ، خبـر بـه چـا راؤ ړۀ

دې دخپـل ځان پـۀ محبت کښـې ګرفتـاره زړۀ تـه
سـتا د بهـار بهـار کوڅـو ، خبـر بـه چـا راؤړۀ

کۀ ستا د شونډو د شکرو کان مې نۀ وے نصيب
نــو دې جهــان تــه د خــوږو ،خبــر بــه چــا راؤړۀ

تســـنيمه ! وې د اواره ګرځېـــدو خپلــې مـــزې
د کـــور د ويښــو دروازو ، خبـــر بـــه چـــا راؤړۀ


www.sikaraam.com

ځان کۀ مې ورک کړو ، نو وصال ته خو راؤ رسېدم
هغې خوش رنګ اؤ خوش جمال ته خو راؤرسېدم

بې د يو موتې خوشبويۍ ، زما لمن کښې څۀ وو
پرې د شها د زنې خال ته خو راؤرسېدم

د خپل وجود خلا کښې والوتم، راوالوتمه
نور څۀ کۀ نۀ شوم ، خپل مثال ته خو راؤرسېدم

دا ائينې مې لے پۀ لے ، ګوټ پۀ ګوټ اوکتلې
خو خپل تصوير ، ستا خط وخال ته خو راؤرسېدم

زړۀ کربلا ده ، کوم کوم زخم به تر سترګو راؤړم
د خپل غزل پۀ لار ، غزال ته خو راؤرسېدم


www.sikaraam.com

دا اطمينان مې ، چې يو خوا ته تګ وۀ ډېر ضروري
يــا ســتا کمــال ، يــا خپــل زوال تــه خــو راؤرســېدم

د دې نــه پــس وايــه! د کــومې تجربــې نــه تېــر شــم
دا د ے د وينـــو پشـــکال تـــه خـــو راؤرســـېدم

تســـنيمه! ؤم بـــه يـــو آواز د ګُنبـــدونو لانـــدې
ولـــې د ښـــار دراؤ دېـــوال تـــه خـــو راؤرســـېدم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

يو شعر

پـۀ لوېشـتو، ځېقونو د خپـل ځـان ناپونه اخلي
يـــارانو ســـره فکـــر د ے د خپلـــو قـــامتونو

د زړۀ نـــه تمنـــا مـــې را بهـــر کـــړه اؤ کـــۀ نـــه
دُنيـا مـې د خپـل ځـان سـره پـۀ شر کـړه اؤ کـۀ نـه

ځـوانۍ لکـه د ګـُل چـې پـانړې پـانړې رژيـدلې
چـا دغـه وخـت زمـا حوالـه ورکـړه اؤ کـۀ نـه

هر خوب کښې ئې ليدلې د کچه لونګو ځانګې
دې زړۀ تـه دې کـم سـنو سـزا ورکـړه اؤ کـۀ نـه

يو عمر مې تېر شوے پۀ عذاب د خاموشۍ کښې
تســنيمه! چـا هغـه شـها خبـر کـړه اؤ کـۀ نـه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

تسنيمه! لوئې مزل دے ، تر هغو رنځورو سترګو
د ريګ دا ډکـه لاره دې بســتر کـړه اؤ کـۀ نـه

چـې ئــې هــر حــاکم حجــاج دے
د خوبونـــو ښـــار تـــاراج دے

زړونـه پـړق چـاؤدو تــه جــوړ دي
خـــو دا ضـــبط يـــو رواج دے

غـــم تـــه زهـــر زهـــر خانـــدو
دا د دوارو څنـــګ مـــزاج دے

زمـــا لاس کښــې وچــې پـــاڼې
ســنا پــهٔ ســر د ازغــو تــاج دے

يــوه ورځ ئــې حســاب وکـــړه
مــا درکــړے چــې خــراج دے

د وعـــدو موســـم دې تېـــر شـــو
احتجـــاج دے احتجـــاج دے

د يــــارانو ســـــينې لـــــوئې
يـــو تســـنيم شيشـــه مـــزاج دے

DARYAAB.NET
دریاب ډاټ نیټ

ژوند ـــ حادثې اؤ توره شپه جانانه
ورک شومه ، ستا نه څۀ پړده جانانه

بـــې د وړو د خند يـــدو ، لوبيـــدو
پـاتې سـکون دے چـا کـره جانانـه

زۀ هـم پـۀ غـور غـور ځـان تـه ګـورم
اؤ تـۀ هـم نـۀ ئـې اوس هغـه جانانـه

زمـا پـۀ يـو قسـم بـاور ونـۀ کـړې
تـــۀ هـــم رنګونـــه بـــدلَوه جانانـــه



www.sikaraam.com

چې خبرنۀ ؤم ګيله من له تا ؤم
اوس مې لۀ ځانه ده ګيله جانانه

کۀ ده محرومه ،هم محرومه نۀ ده
زړۀ د ملنګ دلاس کاسه جانانه

وهم،شکونه اؤ ګډ وډ خوبونه
څۀ خير خبر دي راليږه جانانه

تنګ د خپل ځان لۀ دُښمنۍ راغلے
داسې مې ځان ته مۀ سپاره جانانه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

(ق)

داسې هر وخت منګولې مۀ راکوه
راته سبا سبا کوه جانانه

دا کچـه تـن اؤ دا ملالـې سـترګې
د نظرونـــو نـــه ســـاته جانانـــه

څۀ رنګ محفوظ ده لۀ چاپيره ترخو
دا ستا خـوږه خـوږه لهجـه جانانـه

زۀ لکـه ژونـد د خـاورو ختـو د کـور
تـه لکـه ګُـل تـازه تـازه جانانـه

غـوره تـرې بلـه مشـغولا نشـته دے
ځـان تـه د ځـان قيصـه کـوه جانانـه

(ق)

دومره وحشت چې پۀ رڼا ورځې هم
پــــورې ده هــــره دروازه جانانـــه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

کلــه د زړۀ کلــه د ســترګو دا ښــار
تــر خپلــه وســه ورانــوه جانانــه

کلـه پـۀ دې اؤ کلـه هغـه چـم کښـې
ځــار شــم اورونــه لګــوه جانانــه

چـا بـه راوړي وي ښـېـتري ځـواني
تـۀ ئـې هـم داسـې لَـو کـوه جانانـه

نـرخ د کفـن دې خبـر د ے بـره خېـژي
نـــرخ د ګلونـــو غورځـــوه جانانـــه

کـۀ هـر دېـوال نـۀ وينـې دارې وهـې
خـو تـۀ جامـه سـپينه سـاته جانانه

د چـا مجـال ــ لـۀ تـا پُښـتنه کـؤل
زړونــه د پښــو لانــدې کــوه جانانــه

د چا جرأت ـ چې به ستا لارې نيسي
ښــۀ پــۀ ډاډه زړۀ ځــه راځــه جانانــه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

دا وارثـــان دي واړه وړي تـــړې
بـس خــون بهــا تقســيموه جانانــه

(ق)

ځان مو تباه کړو خو سبا مو نۀ کړه
دا د ډيــوؤ قاتلــه شــپه جانانــه

دا لارې ولــې پــۀ مقتــل ختميـږي
ولــې ځــان وژنــې قافلــه جانانــه

اوس ده د کـوم يـو مسـيحا پـۀ طمـع
دا پــۀ زړۀ ســخته بنــاريه جانانــه

دا ستا تسنيم هـم د دې غـم د کلـي
دۀ لــه هــم ورکــړه تســله جانانــه

دریاب ذات زیبت
DARYAAB.NET

مــونږ د ازل نــه د ســتم موســم تــه ځــان نيــولے
زمکــې ترڅــو بــه وي پــۀ ســر بانــدې اسمان نيــولے

سترګو کښې ستوري ځلَوي ، سپوږمۍ ته کړې اشارت
چُپــه چُپتيــا ده ، يــو قيــدي ور د زنــدان نيــولے

زۀ د خوبونــو شــيش محــل ، پــۀ مــا د کــاڼو بــاران
تــۀ بختــور ئــې کلــک دې غيــږ کښــې يــو ارمــان نيــولے

DARYAAB.NET

مــونږه د ژونــد پــۀ کــربلا کښــې خېمــه زن تســنيمه!
مــونږه هــر دور کښــې د مــرګ تنــدې تــه ځــان نيــولے

## (محمدي صاحبزاده ته نذر)

خلق کۀ هر څومره بدل یا زمانه ده جُدا
دا زړۀ دونهه ده د رحمن ، دا آستانه ده جُدا

دا چې زما پوره قد ستا تر سیورې نۀ رسیږي
دا ځل راوړې دې بې شکه پیمانه ده جُدا

ښار شپه اؤ ورځ د خېټې فکر د ے پۀ سر اخستے
پکښې یوه د هُو نعره د مستانه ده جُدا

دادې پۀ کومو نارنجي رنګونو وویشتمه
دا د کوم غم دې رابخښلې خزانه ده جُدا

DARYAAB.NET دریاب ډاټ نیټ

ما پۀ بل تور رنګ کښې تراوسه حسن ونۀ لیدۀ
خو پۀ خپل حسن کښې د خال توره دانه ده جُدا

تسنیمه! لرې لۀ هجومه خپل غزل ساتمه
چې دا آواز دے مختلف ، دا ترانه ده جُدا

---

دوه شعرونه

سحر خالي لمن راځو ، ماښام خالي لمن ځو
مونږ تماشګیر اؤ یوه لویه تماشه زندګي

کوي د وخت لمحه لمحه د خودکشۍ تقاضا
خو دې بُزدله ښار ته څومره ده خوږه زندګي

DARYAAB.NET

شپه پۀ سر پرته ده اؤ دا شپه عجيبه ډېره ده
خوب ډېوؤ لۀ راغے حادثه عجيبه ډېره ده

هغه بام ، هغه سپوږمۍ، خو دومره ناجانې چې بس
وخت پۀ ځائې ولاړ دے، دا لمحه عجيبه ډېره ده

ما د ناکاميو نه هم مزه د ژوند اخستے خو
دا ځلې راپېښه سانحه عجيبه ډېره ده

څوک پۀ ځان له سر د هواګانو دُښمني اخلي
زور ئې د زړۀ ډېر ، يوه ډېوه عجيبه ډېره ده

هر سړي تسنيمه! خپل قاتل ته قاتل وؤئيل
نن پۀ ډېوالونو ليک نعره عجيبه ډېره ده

ذره ذره ئې کړه راتـول اؤ لـړ پـرې خيـال وسـاته
زمـا خوبونـه د خپـل ځـان سـره سـمبال وسـاته

کاڼے دې نۀ کړې، د دې وخت دا کـاڼي کـاڼي لمحې
دړد پۀ زړګي کښې اؤ پۀ سترګو کښې ملال وساته

زمـا يقـين دے، زۀ بـه بيـا غـوړيږم پاڼـه پاڼـه
زمـا د برخـې تـول بادونـه د شـمال وسـاته

دې بې هنره ښار کښې ، کومې جوارې ته ناست ئې
تسـنيمه ! ځـان سـره هـم څـۀ نـا څـۀ کمـال وسـاته

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

يــم اخســتے شــپې، يـــاره! راوَښـــا يه
مـــا تـــه د خپــل کـــور لاره ، راوښـــا يه

يوځـــل خـــو پـــوره جـــامې راواغونـــده
يوځـــل ســـرپيتوب ښـــاره! راوَښـــا يه

دومـــره مــې قايــل کــړه چــې ايمـان راوړم
دومـــره معجـــزه يـــاره! راوَښـــا يه

يَــه سـپوږمۍ ! د کـوم غـرۀ نـه راتـېر نـۀ شـوم
ورک مـــې کـــړه اؤ يـــا لاره راوښـــا يه

زړۀکښــې دې تســنيمه! څــۀ نيــولي دي؟
اووتـــې لـــۀ هـــر کـــاره ، راوَښـــا يه

DARYAAB.NET

**(داندېش شمس القمر په رديف کښې)**

نـهٔ مـې ځـان يـاد ، نـهٔ تقاضـې د دُنيـا خونـد کـوي
تـګ اوس پـهٔ هـره لاره، سـتا پـهٔ رضـا خونـد کـوي

خونـد کـوي ډېـر ، دا سـتا لـهٔ لاسـه شفا خونـد کـوي
خـو محبـت کښـې رنځېـدهٔ هـم بلهـا خونـد کـوي

وايــم ګُــلاب وريــږي ، وايــم د شــکرو بــاران
خبـره هـيڅ نـهٔ وي، پـهٔ شـونډو د تـا خونـد کـوي

دا دې پـهٔ کـوم مقـام دحـال احـوال پُښـتنه وکـړه
حـال عجب حـال دے ، نـهٔ خنـدا نـهٔ ژړا خونـد کـوي

دا زهٔ خونـد اخلم ، خـو د کـوم منظـر نـه خونـد اخلمـه
دا تــهٔ ولاړ ئــې ، کــهٔ رنګونــه زمــا خونــد کــوي

زړهٔ د بهــــر وتلــــو لاره هــــم راؤښــــودله
اؤ دې ميلـه کښـې ګرځېـدهٔ هـم بلهـا خونـد کـوي

هــر څــهٔ د زړهٔ پــهٔ موســمونو اډانــه تســنيمه!
چـې زړهٔ ډوبيـږي، نـهٔ وريـځ ، نـهٔ هـوا خونـد کـوي

دې وخت ته اؤ بيا دې د محبت زوال ته ګوره
چاپېره د زړګو نه ، د شکونو جال ته ګوره

د شپې يوه بجه اؤ ياد د هغه خبر لوځي
خالي خالي دُرشل ته يا ګونګي ديوال ته ګوره

حيرت دے ، لښتي لښتي شهزادګۍ پکښې اوسيږي
د غنو شپول ته ګوره ، د پترۍ چوپال ته ګوره

د اور لۀ ډيوتا ګانو ، بارانونه دخپر غواړو
تۀ ګوره ، دې زمونږ د سادګۍ کمال ته ګوره

بې شمېره سيه پوشه حادثې پکښې ليدے شي
تسنيمه ! د دې ښار په مخ راخور ملال ته ګوره

خلق د مخ نه خپلې خپلې اندازې لګوي
چې مې ده زړهٔ کښې د هغې رڼا نه څوک خبر دي

بس يو د مور د دُعا ګانو اډانه ده ګني
زهٔ چرته چرته خاورې شوم ، زمانه څوک خبر دي

ځکه دې سترګو کښې ساتم د نا ديدؤ پهٔ شان ـ چې
د زندګۍ د اخرۍ ادا نه څوک خبر دي

واړه د سترګو پهٔ آمسا لهٔ بنده ووتل خو
چې ده چاپېره د هغې قلا نهٔ څوک خبر دي

چې شمعې وژني هغه پېژني هر کس تسنيمه!
چې زړونه وژني ، د هغې هوا نه څوک خبر دي

DARYAAB.NET

زړې کنـــډرې ورانـــوؤ لګیـــا یـــو
یــو نــوے ښــار ابــادوؤ لګیــایو یــو

هـــې اذرې جذبـــه اؤ هـــې بنـــدګې
خـــدایان پخپلـــه ســـازوؤ لګیـــا یــو

کور کښې څۀ پاتې ، خو د کـور دروازې
ســـم لـــۀ ماښـــامه بنـــدوؤ لګیـــا یـــو

ګل ـ دستانه اغوستې لاس کښې حېـران
څـــۀ عجیبـــه یـــارې کـــوؤ لګیـــایو

دومـــره هـــم یـــاره بـــې هنـــره نـــۀ یـــو
شـــونډې د کـــاڼو خنـــدَوؤ لګیـــایو




دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

کۀ ستا نامه اخلو هم ، خُلې له مو راځي زخمونه
يو زخم نۀ دے ، زمونږ ټوله زندګي زخمونه

وينه قطره قطره راتوي شوه د ګُلاب لۀ شونډو
څوک به تر کومې پۀ سينه کښې پټ ساتي زخمونه

نۀ دي هغه نرخونه پاتې، نۀ هغه سوداګر
اوس به ياران پۀ کوم دوکان کښې خرڅوي زخمونه

خويو کتاب يا صحيفه پکښې نازله نۀ شوه
نور ګني دا دور لري پېغمبري زخمونه

ورکړه د خېر هم پۀ هنر ده ، څکه ټول خېر ګري
وختي سحر پۀ خپل بدن سينګاروي زخمونه

ناقراري ده اؤ وورېده ناقراري تسنيمه !
نۀ ئې زۀ ووژلم ، نۀ خُلۀ بندوي زخمونه


www.sikaraam.com

پـۀ شـوق د رغليو خلقـو خپـل لاسـونه خـالي راؤړل
سـخکال هـم فقيرانـو کچکولونـه خـالي راؤړل

مـاتم د محبـت د مـرګ پـۀ هغـه ورځ پکـار د ے
کـۀ هـر کلـه جـذبو نـه مـو دا زړونـه خـالي راؤړل

کېـد ے شـي ، د تمـامې ښـاريې پـۀ دړد خبرشـي
کـۀ مـا درلـه د خپـل زړګـي زخمونـه خـالي راؤړل

د ځـــو وړو وړو خيرنـــو لاســـو نصـــيبونو!
يـو پـلار د زوړ ښـادر تـول پلوۀنـه خـالي راؤړل

بيـا هـر يـوۀ سړي لـه خپلـه خپلـه کتبـه ورکـړه
بيـا تـول ښـار د مخونـو چوکاټونـه خـالي راؤړل

تسـنيمه! د هنـر پـۀ سـيمه داسـې موسـم راغـے
لفظونـــو د معنـــو واړه جيبونـــه خـــالي راؤړل

ستړي حادثې لري، دا د افتونو ښار
سم د سړي زړۀ چوي ، دا د افتونو ښار

هر ماښام پۀ وخت راځه ما سره دا وېره ده
تا رانه ونۀ لېوتي ، دا د افتونو ښار

وينه، خوله، زړۀ، ذهن ، خوب ، خواهش اؤ زخم هيڅ
خوري ګُلاب ګُلاب زلمي ، دا د افتونو ښار

ستا اؤ زما څۀ پته،لاس د فقيرانو نه
هره ورځ کاسه لوټي ، دا د افتونو ښار

څومره تنګ نظر لري ، څومره تنګ زړګے ولې
ستړي حادثې لري ، دا د افتونو ښار

اخلـــــې ســــــره مـــــې د ارمانـــــــه ، يــــاره
ســــودا دې وكــــړه خـــو ارزانـــــه، يـــاره

دواړه د يـــو بـــل پـــۀ طلـــب كښـــې برېـــاد
اؤ بربــــادي پـــــۀ دواړو ګرانـــــــه ، يـــــاره

دې ښـــار كښـــې هـــر چـــا لــه لاس مـــۀ وركــوه
لـــړه صـــلاح اخلــه زمـــا نـــه يـــاره!

مـــونږ خـــاک نشـــينو هـــم كـــۀ كـــده وكـــړه
څـــوک بـــه ځـــاريږي بيــا لـــۀ تانـــه يـــاره!

ژونـــد تيـــرَول ، لكـــــه د غـــرۀ كنســـــتل
خودكشــــــي څـــــومره ده اســـانه يــــاره!

ګـــرد ئـــې راځـــي زمـــونږ پـــۀ مـــخ تســـنيمه!
اؤ قافلـــــه د ژونـــــد روانـــــه يــــاره!


www.sikaraam.com

کلـه د چـا کلـه د چـا مـو پېغورونـه تېـر کـړۀ
مـونږ پـۀ نامـه د زنـدګۍ تراخـۀ ګوټونـه تېـر کـړۀ

نۀ ئې هغه سترګې نصيب شوې ، نۀ هغه خوشبوئي
دې زړۀ چنـې تـه د پـردي دېـوال کلونـه تېـر کـړۀ

مـونږ هغـه لارې چـې يـو تاتـه رسـېدلے نـۀ شـو
ګنـي پـۀ دې سـينومو خـومره کاروانونـه تېـر کـړۀ

خېـر د سـپوږمۍ د پلوشـو اؤ خېـر د ژونـد د ډيـوؤ
دا ځـل د شـپې بـلا ثابـت ثابـت نمرونـه تېـر کـړۀ

مـونږه د واړه چـم قاتـل ، قاتـل ثابـت نـۀ کـړے شـۀ
مـونږ کليمـې تېـرې کـړې، مـونږ شـهادتونه تېـر کـړۀ


www.sikaraam.com

ستر ګې مو وې خو زمونږ دومره نصيبونه نۀ وو
د کور نه څۀ له راوتو ، چې منظرونه نۀ وو

خلقو رشتيا د سمندر غوندې سينې لرلې
وې سمندر غوندې سينې خو پکښې زړونه نۀ وو

خود ئې دعوې د قامتونو د زوال پۀ وخت کړې
چې د خپل سيورې برابر د دوئ قدونه نۀ وو

د يو زړګي پۀ قيد خانه کښې زندګي وه تېره
رانه چاپېره قلاګانې ، دېوالونه نۀ وو

دې ائينو کښې مو تل خپله نيمګړتيا ژړلې
يا به مو پښې وې شلې يا به مو لاسونه نۀ وو

تسنيمه! يو مابښام مې داسې پېښور پرېښود
لکه چې هلته مې د پلار نيکۀ هډونه نۀ وو

هــم دغــه ګُلابــي بــدن ، هــم دغــه زاويــې وے
اے کــاش، چــې دا چــاپېره ديوالونــه ائينــې وے

دا دشــت د خواهشــونو ، د نظـر تـر حـده وے ، خـو
اے کـاش ، چـې راسره د هغـو سـترګو تسـلې وے

دې شونډو باندې شات وے،د هغو کم سنو شونډو
پــهٔ ژبــه د کچــه کچــه انګــورو ذائقــې وے

دې زړهٔ دې پـهٔ ځلـور اړخـه سـترګې کچکـول کـړي
داتــول پــري زادګــان مــې غلامــان د اشــارې وے

نن شپه د ژوند پـهٔ دغـه لويـه لار کښـې تنهـا نـهٔ وے
تســـنيمه! راســـره د خوشـــبويانو قـــافلې وے

چـــې رانبـــکاره شـــي د يـــو بـــل غمونـــه
خوښـــه دې نـــۀ ده چـــې بـــدل کـــړو زړونـــه

دې کـــور نـــه اوس يـــو ســـړي کـــډه وکـــړه
ځـــومره خاموشـــه دي کړکـــۍ، وَرونـــه

ماتـــه دې تېـــره بـــې لـــوظي يـــادېږي
تـــۀ دومـــره کلـــک مـــۀ راکـــوه لاســـونه

اخـــر بـــه مـــا پـــۀ يـــو پـــړاؤ هېـــر کـــړي
کـــوچۍ بـــه ځـــومره يـــادَوي مخونـــه

اخـــر يـــوۀ ملنـــګ کچکـــول مـــات کـــړۀ
دلتـــه کښـــې چـــا نـــۀ ورکـــول خېرونـــه

تســـنيمه! ځـــومره ائينـــې لـــرې تـــۀ
دلتـــه د هـــر ســـړي هـــزار مخونـــه


DARYAAB.NET

راووتـــم لـــۀ کـــوره ، يـــم روان د څـــۀ د پـــاره ؟
پـۀ ځـان دغـه مشــکل کړمــه اسـان د څـۀ د پـاره؟

دا زمکـه مـې د ښـو لاندې اور اخلـې اخـر ولـې؟
پـۀ سـر مـې د ے ولاړ دغـه آسـمان د څـۀ د پـاره؟

چـاپيره کـۀ رشـتيا دومـره خـوره وره دُنيـا وي
دا زړۀ د ے بيـا پـۀ ځـان کښې بنديوان د څـۀ د پـاره

دې ښار کښې چې دساه آخستۀ هم لوئې غنيمت د ے
دعـوې کـوي پـۀ کومـه خُلـۀ ياران ، د څـه د پـاره ؟

تسـنيم د ے دا کومـو ملنګـانو پـۀ دُعـا رنـګ ؟
پـــۀ دۀ اؤ د رنګونـــو دا بـــاران د څـــۀ د پـــاره؟

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

ستانه بغير هم زما واړه مابنامونه اباد
پۀ يو نه يو تصوير د سترګو کنډرونه اباد

نن کۀ مونۀ وژني لۀ تندي ، نو سبا مووژني
مونږ د فرات پۀ غاړه کړل کورونه اباد

کمې به نۀ شي تر هغې دا د زړګو فاصلې
څو چې بيا نۀ کړو دا حجرې اؤ چوپالونه اباد

ګني هر چا ده خپله کړې سنجيده خاموشي
يو د وړو پۀ شرارت باندې کورونه اباد

تسنيمه! واړه د واعظ پۀ وينا لوټې لوټې
نۀ جماتونه دي ودان ، نۀ مندرونه اباد

ستر ګې مو سوزي ، د خوبونو کور کي پرېوځي
راته په څو مره ګرانه بيعه زندګي پرېوځي

زۀ د هر هجر په اغاز کښې داسې خوب وينم
چې ستا د لاسو نه دوه ستورې کټورې پرېوځي

څو کاله پس به غنيمت وي دا زمونږه داستان
لۀ خپل معياره داسې ورو ورو عاشقي پرېوځي

يا څۀ غم وکړئ يا پۀ وخت لۀ ښاره ښې وباسئ
پۀ بل باران کښې به دا پاتې ابادي پرېوځي

دا څل د کور د دائرو سفر عالم ستړے کړو
چې دوه قدمه هم لۀ کوره بهر ږدي پرېوځي

تسنيمه !دواړه پۀ لمن کښې ځائيوم لګيا يم
لۀ هغو لاسو کله ګُل ، کله ازغي پرېوځي

يخې شپې د دسمبر ، واورې بادونه
زړونه رېږي کۀ د شګو کمرونه

دا پۀ لېچو مو د چا اېښي سرونه
مونږ به وژني هم دا خپل محبتونه

د يوۀ کردار نه ګېر چاپېره چورلي
يک کرداره دي زمونږه داستانونه

زړۀ د کوم د پوال چنې ته ځان دمه کړي
چرته کوز کړي لۀ بڼو درانۀ بارونه

(ق)

دا کوم دشت ته د هوسيو رمې روانې ؟
دا د څۀ پۀ تماشه دي خلقتونه؟

دا پۀ چا پسې لمحې لاسونه مروړي ؟
دا پۀ چا پسې ارمان کوي کورونه

DARYAAB.NET

دروازو تـــــه د نوحـــــو تـــــالې پرتـــــې دي
د پوالونـــــو تـــــور اغوســـــتي قميصـــــونه

---

زنـــــدګي ده دومـــــره تېـــــزه پـــــۀ قـــــدم کښـــــې
چـــــې لـــــۀ ســـــترګو مـــــې خـــــوئيږي منظرونـــــه

څـــــۀ بـــــې ځايـــــه ، څـــــۀ ارزان ارزان مـــــې وېشـــــي
دا زمـــــــــــا وارۀ وارۀ ضـــــــــــرورتونه

يـــــو اواز راپســـــې د بـــــرې حملـــــې وکـــــړې
خـــــلاص مـــــې نـــــۀ کـــــړۀ لـــــه زنځيـــــره خپـــــل لاســـــونه

الخـــــــــــذر زمـــــــــــا د دور حوالـــــــــــه ده
ګـــــونګې ژبـــــې اؤ درانـــــۀ ســـــماعتونه

شـــــور د ے ښـــــۀ لـــــۀ خاموشـــــۍ خـــــو دومـــــره هـــــم نـــــۀ
چـــــې د خپـــــل زړګـــــي هـــــم نـــــۀ اورئ غږونـــــه


www.sikaraam.com

د لېلــی ناقــه پــۀ دشــت کښــې نــۀ ورکیــږي
دي د عشـــق واړه معلــــوم معلــــوم حدونـــــه

دي زمــــــا د شــــــوګیرو اؤ آواره شـــــــپو
ګواهـــــــان د کراچـــــۍ تـــــول ســــــړکونه

(ق)

خوشــبوئي ســـتا د خبــرو دویـــم نـــوم دے
دي لـــۀ فرشـــه روان ، عـــرش پلـــه لفظونـــه

ســـپوږمۍ ســـتا د ګریوانـــۀ پـــۀ لار راخیـــژي
څکــــــه پاشـــــي د رڼــــا برکتونــــــــه

زمـــا ســـتا نـــه هـــم ګیلـــه ده ، خـــو دا وارې
نـــــور د زړۀ د بربـــــادۍ دي ســــــببونه

---

د خپـــل قـــد پـــه ســـیوري کښـــېنم اؤ دمـــه شـــم
پـــۀ تســـــنیم نشــــته د وُنـــــو احســـــانونه

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

(اضافه شوي غزلې)

زۀ پـۀ انـا بانـدې ژونـد ے يـم اؤ انـا را رسـي
درد کۀ د هر ځائې نه راتېر شي خو تـر مـا رارسي

خدائې خبر ولې هر يو مخ ته د ېر پۀ غور ګورم
خدائې خبر ولې د هر چا تـر څنګ بلا رارسي

دا چې مـې پښـې د کائنـاتو لـۀ څـادره ووځـي
دا مې يقين د ے ، چې د عشق کـوه نـدا رارسي

يـا پـۀ وږو پـاس ګرځۀمـه د بنګـړو باروـنـه
يـا زندګي ده ، پۀ قسطونو کښې تر مـا رارسي

تسـنيمه! څـوک د بيابـان شـګو راؤنغښـتلو
دا چې د تېـزې سـيلۍ شـور اؤ انګـولا رارسـي

زيـان مـو ليـدۀ خـو بيـا مـوهم دا عاشـقي کولـه
خلقــو پېســي ګټلــې ، مــونږه شــاعري کولــه

دغــه دُنيــا چـې ئــې بلهــا بلهــا کارونــه پــۀ سـر
چابــه قيصــه د دې تــوتې تــوتې زړګــي کولــه

خلقــو وئيــل ، ګنــي څـۀ نــوے خبـر تــا راوړے
څـومره پـۀ منډه راغلـې ، څـومره دې تـادي کولـه

يــو شــهزاده اوس د لقمــان پــۀ دوا نــۀ رغيــږي
دۀ بــه د ســترګو د نــرګس ســره ســيالي کولــه

دا هم تاريخ دے ، چې د ښار نۀ تر دربـاره پـورې
روغ خلـــق چُـــپ وو اؤ خبـــره لېـــوني کولـــه

هغــه رحمــن د معشــوقو پــۀ نــوکرۍ ژونــدے وۀ
تســـنيمه! مـــونږه د ســـرکار هـــم نـــوکري کولـــه


www.sikaraam.com

ؤم د هرچا خو ستاد کار نۀ ؤم
زۀ کۀ پۀ لار ؤم، خو پۀ لار نۀ ؤم

تا بۀ زۀ دومره خبر کړے خو وے
زۀ کۀ خبر لۀ دې بازار نۀ ؤم

زۀ د خپل زړۀ پۀ نري تار زنګېدم
زۀ د هیچا پۀ شان پۀ دار نۀ ؤم

دا مې هم لویه خوش بختي وګڼه
چې د هجوم پۀ مینځ کښې شمار نۀ ؤم

د دشمنۍ مارانو نۀ پرېښودم
دا چې دوستانو ته وزګار نۀ ؤم

ښه ده، چې خاورې خاورو وُخوړلې
ښه ده، چې ستا پۀ وُږو بار نۀ ؤم

دغه دنیا وه د هوښیارو کلے
تسنیمه! زۀ دومره هوښیار نۀ ؤم

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

چې هفت رنګې شوګيرې ځي ستا پۀ لوري
سترګې خوب پسې ړندې ځي ستا پۀ لوري

هر ايمان دے لكه بند د وچو شګو
عمامې ځي اؤ خرقې ځي ستا پۀ لوري

ستا ګريوان كښې ئې چې خدائې زده څۀ ليدلي
خو ګُلاب اؤ بنفشې ځي ستا پۀ لوري

كج بانۀ اؤ مړه كاتۀ اؤ خال د شونډې
دغه ټولې اشارې ځي ستا پۀ لوري

چې طلب لري، هغه كله وركيږي
لارې دا كږې وږې ځي ستا پۀ لوري

ګرد مې ځكه د بنو د پاسه راؤړۀ
چې دا ټولې قافلې ځي ستا پۀ لوري

قات به څۀ رنګ نۀ راځي د غم رنګو
چې غم رشې رشې ځي ستا پۀ لوري

د دې ماتوماتو زړونو دې خدائې مل شي
دا بې دړده زمانې ځي ستا پۀ لوري

غضب دا نۀ دے چې ګرځم بې ګرېوانه
غضب دا چې شک شُبې ځي ستا پۀ لوري

د دې عشق هم عجيبه غوندې آداب دي
زړۀ کۀ نۀ ځي خو دا پښې ځي ستا پۀ لوري

دا وړې وړې ساه ګانې ځکه شمارم
دا وړې وړې لمحې ځي ستا پۀ لوري

رڼائي به د تسنيم څۀ رنګ نصيب شي
چې دا توري تورې شپې ځي ستا پۀ لوري

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET

شور د هستۍ لۀ سمندره راځي
هر چې راځي لۀ دې منظره راځي

زۀ هم شپونکے د دغه غرونو ومه
اوس نۀ تپه اؤ پۀ سندره راځي

اوس د دې زمکې تپ اسمان ته رسي
اوس دې پۀ خوب کښې شنه کوتره راځي

مشک خو کرم وۀ د مشکینو زلفو
دا چې ډډوزې لۀ بستره راځي

زخم – هر زخم چې تر ما رارسي
ستا د لیندې ، ستا لۀ خنجره راځي

دریاب ډاټ نیټ

څومره تغمې مې پۀ سینه ولاړې
څومره غصه پۀ نۀ خبره راځي

چا ته دې مخکښې غوړولې منظر
DARYAAB.NET
ټول بې زبانه ، بې بصره راځي

تسنیمه ! څۀ شوې اواره شوګیرې
اوس راله خوب لۀ مازیګره راځي

لوېشت نيمه زمکه غواړي، يؤ څپق اسمان غواړي
دا فقير څۀ غواړي، خو سېورے د خپل ځان غواړي

دا خلق زړۀ ته هم کوزېږي خو وېره وېره
اؤمحبت سر پۀ تلي عاشقان غواړي

نۀ څوک لۀ کوره اوځي ، نۀ استخارې کوي څوک
خو ماه د مصر غواړي، چاه د زنخدان غواړي

ژوند کښې يوه نيمه لمحه چرته د کار راشي
خلق تفصيل د کردارونو د داستان غواړي

ښار به تسنيمه! دې کافرو هم وران کړے وي. خو
اوس پۀ توبو سر دے ، امان لۀ مسلمان غواړي

# د مصنف چاپ کتابونه

۱-دا کوم رنګ مې کشید کړے (شاعري)

۲-چندڼ (شاعري)

۳-منتخب خوشحال ( د خوشحال خټک د شاعرئ انتخاب)

۴-بېړه نمبر ۲۸ (رپوتاژ)

د دریاب خپرندویه ټولنه
DARYAAB.NET

# ناچاپ کتابونه

۱-تنقیدي مضامین

۲-شخصي خاکې

۳-منتخب شېدا ( د کاظم خان شېدا د شاعرئ انتخاب)

۴- منتخب رحمان ( د رحمان بابا د شاعرئ انتخاب)